

د «الرساله» د دوهم کال لومړۍ ګڼه

Ketabton.com

# الرساله

Al-Risala

جنوري، ۲۰۲۶ز

ketabton.com - The Digital Library

# الرسالة

Al-Risala

جنوري ، ۲۰۲۶ ز

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

# په دې ګڼه کې


| | |
|---|---|
| پیغام له پامه غورځول | ۴ |
| جاحظ او حریري | ۷ |
| قال اللّه | ۹ |
| عدل | ۱۱ |
| د رسول اللّه ملګري | ۱۲ |
| مهجور کتاب | ۲۵ |
| آه دا ظالم انسان | ۲۶ |
| انسان بدلېږي | ۲۹ |
| د مذهبي فکر سپیناوی | ۳۰ |
| د مذهب کیفیت | ۳۲ |
| د شاعر اعتراف | ۳۲ |
| لیکوالي ونه ژغوره | ۳۳ |
| د خدای په دې ځمکه | ۳۴ |
| فکري قالب | ۳۶ |
| د ارتقاء افسانه | ۴۱ |
| دا جعلي داستانونه | ۴۵ |
| مسؤلیت | ۴۷ |
| سرسري مطالعه | ۴۸ |


او نور ډېر څه...

ketabton.com - The Digital Library

# پیغام له پامه غورځول

په حدیث کې راځي، چې بنده کله نا کله یو ورى یا تړى له پامه غورځوي او ګومان کوي، چې یو عادي بنده یې له پامه غورځولى دى، حال دا چې ده رب العالمین له پامه غورځولى وي.

همداراز کله نا کله بنده یو پیغام هم له پامه غورځوي او ګومان کوي، چې یوه معمولي غوندې خبره یې له پامه غورځولې ده. حال دا چې ده د رب العالمین خبره له پامه غورځولې وي.

د داسې خلکو مزاج داسې وي، چې هغوى خپل ځان هوښيار او بريالي ګڼي. په خپل کار باندې د پښېمانتيا په ځاى په ډېره فاتحانه ژبه کې يې قصيدې بولي. خو له مرګ نه وروسته چې د اخرت په دنيا کې راپورته شي، نو هغوى به وګوري، چې له دوى نه ډېر ساده بل هيڅ څوک هم نه و. او داسې احساس به کوي، ګواکې ځمکې او اسمانونو د هغوى له قبلولو مخ اړولى دى.

دوى به هغه ورځ پوه شي، چې هغه ژوند چې دوى په دنيا کې ورباندې نازېدل، د خداى په سترګو کې څومره بې قيمته دى. دا يوازې د خداى د ازمايښت سنت و، چې په ځمکه کې يې هغوى ته د ژوند فرصت ورکړى و. د ازمايښت وخت چې پاى ومومي، نو بيا به هغوى خپل وجود له يوه مچ او مياشي نه هم ډېر بې حقيقته ووينې.

***

ketabton.com - The Digital Library

# هغه وخت چې دا فرصت به نه وي، څوک دې حق خبره تر پښو لاندې کړي او بیا دې هم اتل وي



د ځینو اسلام هغوی ته اطمینان ورکړی دی، چې د جنت مانۍ د دوی لپاره ځانګړې دي. د ځینو اسلام هغوی ته دویناولۍ او خطابې پرتمین شهرت ورکړی دی. د ځینو اسلام له هغوی نه د نړیوال انقلاب اتل جوړ کړی دی.

په خدای دا هغه اسلام نه دی، چې رسول او د رسول اصحابو موندلی و. که خلك د هغوی اسلام ومومي، نو ژبې به یې بندې شي، په سترګو کې به یې اوښکې ډنډ شي او زړونه به یې له وېرې ولړزیږي. د رڼا په ځای به تیارې او د رنګینو محفلونو په ځای به خلوتونه د هغوی محبوب شیان وګرځي. د نورو په وړاندې د پرتمینو ویناوو کرشمې ښودل به هغوی ته یو بې معنا فعل ښکاره شي. دوی به د خپلو تېروتنو او حماقتونو په ارزونه کې دومره مشغول شي، چې په نورو پسې د منډو وهلو هېڅ فرصت به ورسره نه وي.

په نننۍ دنیا کې بنده خوراك و څښاك کوي. کور جوړوي. دندې او مقامونه ترلاسه کوي. د امتیازاتو د ترلاسي لپاره هلې ځلې کوي. همدې وضعیت بنده په فریب کې مبتلا کړی دی. ده خپل اوسنی حیثیت تلپاتې حیثیت ګڼلی دی. حال دا چې اصلي حیثیت دا دی، چې دی یو بې زوره چینجی دی. ډېر ژر هغه ورځ راروانه ده، چې د ده ټول اضافي حیثیتونه به ورنه

ketabton.com - The Digital Library

واخیستل شي. تر دې چې جامې به هم ورنه وایستل شي چې د بنده په شتمنۍ کې تر ټولو وروستی څیز دی. دی به ناڅاپي خپل ځان په داسې حال کې ومومي، چې «په لغړ بدن، په لوڅو پښو او ناسنت شوي» حالت کې به د رب العالمین په وړاندې ولاړ وي.

دغه ورځ به ټولې کوزې او هسکې پای ومومي. له وېرې او ترهې نه به د خلکو ژبې بندې وي. د بنده له خپل وجود پرته به یې هر څه له ملتیا لاس اخیستی وي. د هیڅا لپاره به دا فرصت نه وي، چې د حق پیغام دې هم له پامه وغورځوي او د حق اجاره دار دې هم دی وي. دغه راتلونکې ورځ چې څوک نن ووینې، هماغه بریالی دی. هغه شخص چې سبا دغه ورځ ویني د هغه لپاره له دې پرته بل انجام نشته، چې «تل تر تله به ژاړي او غاښونه به چیچي.»

---

# جاحظ او حریري

جاحظ (مړ ۲۵۵هـ) په بصره کې نړۍ ته راغی. دی د خپلې زمانې ډېر پیاوړی عالم او بې مثاله ادیب و. په علمِ کلام کې ده د یوه بېل فکري مکتب بنسټ ایښی دی، چې په جاحظیه مشهور دی. ده په راز، راز فنونو باندې ۲۰۰ کتابونه لیکلي دي. استاذ ابن العمیه (مړ ۳۶۰ هـ) د ده د کتابونو په هکله لیکلي دي، چې «د ده کتابونه لومړی عقل او بیا ادب در زده کوي.» ده په ژوو، بوټو، اخلاقپوهنې، ټولنپوهنې او ګڼو نورو موضوعاتو ډېر زیات لیکل کړي دي. د ده چاپ شوي کتابونه په لاندې ډول دي:

- ★ **کتاب البیان و التبئین**
- ★ **کتاب الحیوان**
- ★ **کتاب المحاسن و الاضداد**
- ★ **کتاب البخلاء**

## د دعا په قبلېدو کې ځنډ

**جاء الآثار ان العبد اذا دعا ربه و هو یحبه قال: یا جبریل لا تعجل بقضاء حاجة عبدي فاني احب ان اسمع سوته. (ابن رجب حنبلی، جامع العلوم و الحکم، مکتبة الریاض الحدیثة، قاهره ۱۹۶۲، صفحه ۳۴۲)**

ژباړه: بنده چې کله خپل رب رابولي او دا بنده په خپل رب ګران وي، نو الله فرمایي: اې جبرائیله! زما د بنده د حاجت په پوره کولو کې بیړه مه کوه، ځکه زما خوښېږي، چې د هغه اواز واروم.

ketabton.com - The Digital Library

**ابو فراس حمداني د عباسي زمانې شاعر دی. دی په خپله یوه قصیده کې وايي:**

**اِذا مـــــا اَرسَـــــلَ الأُمَــــرَاءُ جَیشـــــاً**
**اِلـــــی الاَعـــــداءِ اَرسَـــــلنَا الکِتابَـــــا**

ژبـاړه: زمـوږ د دبـدبې حـال دا دی، چـې چېرتــه نــور حــاکمان د مقــابلې لپــاره لښـکرونه استـوي، مـوږ هلتـه یـوازې لیـک ورلېږو او فقـط همـدا لیـک د ځـواب لپـاره کافي وي.

**شاعر په خپل شعر کې د سیاست یو راز ښودلی دی. سیاست دا نه دی، چې له دښمن سره مخامخ جګړه وچېړل شي. سیاست دا دی، چې خپل ځان دومره زړور او ځواکمن کړای شي، چې د اړتیا په وخت کې یوازې لیکلی ګواښ هم د دې لپاره بس وي چې لانجې ته د پای ټکی کېږدي.**

***

د علم او ادب په ډګر کې له کمالونو ور اخوا جاحظ ډېر زیات بدموری انسان هم و. دی له خپل بې ډوله بدن، بدمخې څېرې، بدرنګو بړکو سترګو سره لیدونکو ته یو عجب غوندې مخلوق ښکاره کېده. د ده د سترګو بړکوالی دومره ډېر و، چې له همدې امله یې لقب هم جاحظ (د بړکو سترګو خاوند) شو. د ده اصلي نوم ابو عثمان عمرو بن بحر و. ویل کېږي، چې خلیفه متوکل بالله چې کله د ده د علم او ادب ستاینه واورېده، نو دی یې د خپل زوی لپاره د استاد نیولو په خاطر سرمن رای (عراق) ته راوغوښته. خو کله چې خلیفه د ده بدمخی صورت ولیده، نو سخت بد یې ورنه راغلل. او بیا یې جاحظ ته لس زره درهم ورکړل او بېرته یې واستوه.

مشهور ادیب حریري (٥١٦- ٤٤٦هـ) هم ډېر بدموری و او ټیټه ونه یې لرله. یوه سړي چې د ده د شهرت په اړه اورېدلي وو، له ډېر لرې ده ته راغی چې ادب ورنه زده کړي، خو چې د ده صورت یې ولیده، نو فکر یې بدل شو. په دې خبره حریري ځینې شعرونه ورته ولیکل، چې یوه مسره یې دا وه:

**مثل المعیدي فاسمع بي ولا ترني**

**ژباړه: زه د معیدي غوندې یم، زما خبرې واورئ، څېرې ته مې مه ګورئ.**

ketabton.com - The Digital Library



# قال الله

نو څه چې تاسو ته درکړی شوي، هغه د دنیايي ژوند څه اسباب دي او څه چې الله سره دي هغه غوره او ډېر پاتېدونکي دي د هغو خلکو دپاره چې ایمان يې راوړی او په خپل رب بروسه کوي. او هغه کسان چې له سترو ګناهونو او بې شرمیو ځان ساتي او کله چې په غوسه شي بیا ښښنه (هم) کوي. او هغوی چې د خپل رب (د حکم) منل کوي، لمونځ ترسره کوي، (هر) کار يې په خپل منځي مشورې سره وي او له هغه څه نه چې موږ ور روزي کړي، لګښت کوي. او هغوی چې کله تېری وربانديې وشي نو (صرف) خپل غچ اخلي. او د بدی بدله هماغسې بدي ده (نه زیاته) خو څوک چې تېر شي او سوله وکړي نو اجر يې په الله دی، بې شکه ظالمان د هغه ښه نه ایسي. او څوک چې له مظلوم کېدو وروسته (صرف) خپل بدل اخلي نو پر دوی (د پړې) کومه لار نشته. دا لار یوازې په هغو خلکو ده چې په خلکو ظلمونه کوي او ناحقه په ځمکه کې تېری کوي. د دوی دپاره دردناک عذاب دی. او څوک چې صبر کوي او ښښنه کوي، یقیناً دا د همت له کارو څخه دي.

(شوری: ۳۶ – ۴۳)

ketabton.com - The Digital Library

ځوک چې وېرېږي هغه به ژر نصیحت ومني. او ډېره به ترې کوي ځوک چې ډېر بد مرغه وي. هغه چې لوی اور ته ننوځي، بیا به نه پکې مري او نه به ژوند کولی شي. په حقیقت کې هغه چا بری وموند چې پاک شو. او د خپل رب نوم یې یاد کړ او لمونځ یې وکړ. خو تاسې د دنیا ژوند غوره ګڼئ. او(حال دا چې) اخرت غوره او ډېر پاییدونکی دی.

(الاعلی: ۱۰ – ۱۷)

خو انسان (داسې دی) چې کله یې خپل رب وازمایي او عزت او نعمت ورکړي، وایي خپل رب مې عزتمن کړم. او کله چې ویې ازمایي او روزي یې ورباندې تنګه کړي، بیا وایي خپل رب مې سپک کړم. هېڅکله نه، اصلاً (ستاسې عمل سم نه دی) تاسې د یتیم عزت نه کوئ. او د مسکین پر خوړو ورکولو یو بل نه هڅوئ. او میراث مال یو ځایي ټول خورئ. او مال ډېر زیات خوښوئ. هېڅکله نه، هغه وخت چې ځمکه په سختو ټکولو سره وټکوله شي. او (خپله) ستا رب راشي او ملایکې کتار کتار. او په هغه ورځ چې دوزخ هم راوستل شي، په هماغه ورځ به انسان ته نصیحت وریاد شي خو بیا د هغه دپاره پوهېدل څه فایده؟ وایي به کاشکې مې څه مخکې رالېږلي وی خپل دې ژوندانه دپاره. نو په هغه ورځ به نه څوک د الله په شان عذابول کوي. او نه به څوک د هغه په څېر تړل کوي. اې ډاډمن نفسه (ځانه)! په داسې حال کې خپل رب ته ور وګرځه چې ته له هغه خوشاله یې او هغه له تا خوشاله. بیا زما په (نېکو) بندګانو کې ورننوځه. او زما جنت ته ننوځه.

(فجر: ۱۵ – ۳۰)

تباهي ده هر پیغور ورکونکي بد ویونکي لره. هغه چې مال یې راغونډ کړی او شمېرلی (ایښی) دی. ګومان کوي چې (دا) مال به یې تل ژوندی وساتي. هېڅکله نه، دی به خامخا په ټوټه، ټوټه کوونکي (اور) کې وغورځول شي. او ته څه پوهېږې چې هغه ټوټه، ټوټه کوونکی څه شی دی؟ د الله بل کړی شوی اور دی. هماغه چې پر زړونو به ورخېژي. هغه یقیناً پر دوی را ایسار شوی دی. په لوړو، لوړو ستنو کې.

(هُمَزه)

***

ketabton.com - The Digital Library

# عــــدل

موږ خپل رسولان يقيناً له ښکاره دليلونو سره لېږلي او هغوی سره مو کتاب او تله هم رانازل کړي تر څو خلك په انصاف ولاړ اوسي. (حديد: ۲۵)

د قرآن کريم دا وينا راته ښيي، چې په ټولنيز ژوندانه کې الله تعالی ته له خپلو بندګانو څخه څه مطلوب دي. هغه مطلوب دا دی، چې هر بنده دې په خپله، خپله دايره کې له نورو سره هماغه رويه غوره کړي، چې له انصاف سره سمه وي. د ده هر عمل د خدای د شريعت په تله کې تول شوی وي. راکړه وي يا ورکړه، په دواړو حالتونو کې دی د خلکو حقونه په پوره معنا ادا کړي، همدا ده چې الله تعالی فرمايلي دي: اې مؤمنانو (تل) په عدل (محکم) ولاړ اوسېږئ، د الله د پاره شاهدان، که څه هم پرخپلو ځانو مو وي. (نساء: ۱۳۵)

که د مؤمن بنده له چاسره خبره لاندې باندې هم شي، بيا هم د هغه په عادلانه رويه کې فرق نه راځي. د خدای وېره دی اړ کوي، چې په هر حال کې هماغه کار وکړي، چې په حقيقي معنا کې د انصاف غوښتنه وي:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ لِلّهِ شُهَدَاء بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى.** (مائده: ۸)

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله د پاره په حق ولاړ او په عدل شاهدان اوسئ، او د کومې ډلې دښمني مو دومره ونه پاروي چې بيا عدالت ونه کړئ، عدل کوئ، دا تقوی ته ډېر نيږدې دی.

خو پخپله چې په انصاف درېدل څومره مطلوب دي، هماغومره بيا دا نامطلوب دی، چې انسان د نورو په خلاف د انصاف بيرغونه ودروي. له سړي نه به د خپل ځان په هکله د خدای په نزد پوښتنه کېږي او د هر بنده اصلي مسؤليت دا دی، چې په خپل ژوند کې د انصاف لمنه ونيسي. که د حاکم په موقف کې وي يا د محکوم په دريځ کې، په هر حال کې بايد د ده له لاسه نورو ته انصاف ورسېږي.

بيا که څوک ګوري، چې د ده ورور، هغه که فرد وي يا ډله، د بې انصافي په روش روان دی، نو د هغه لپاره يې په زړه کې بايد د نصيحت (خيرخواهي) جذبه راپورته شي، نه د مزاحمت او سنګرنيونې جذبه. ده ته بويه، چې د خپلو نورو ورونو د اصلاح لپاره له الله نه دعا وغواړي. په حکمت او خيرخواهي سره هغوی ته د ښېګڼې لارښوونه وکړي. د هغوی د اصلاح لپاره هماغسې مهربانه او خوږه طريقه خپله کړي، چې دی يې د خپل ګران اولاد د سمون لپاره غوره کوي. د دې په ځای مزاحمتي سياست چلول او د انصاف له بيرغ سره راپورته کېدل په هېڅ معنا هم سمه طريقه نه ده. دغه راز هر اقدام يوازې د فساد د زياتېدو سبب ګرځي او په هېڅ درجه کې هم د حالاتو سموونکې طريقه نه شي کېدی.

ketabton.com - The Digital Library



# د رسول الله ملګري: هغوی څنګه خلک وو؟

عمرو بن العاص او خالد بن الولید په اتم هجري کال د صفرې په میاشت کې ایمان راووړ. عمرو بن العاص وایي، چې زه مدینې ته په لاره وم او هده سیمې ته رسېدلی وم، چې دوه کسان په مخه راغلل. ګورم چې یو یې خالد بن الولید و. د دواړو ترمنځ چې کومې خبرې اترې وشوې، د هغو یوه برخه دا وه:

**قلت این ترید، قال محمداً. دخل الناس في الاسلام فلم یبق احدٌ به طُعمٌ**. (**اخرجه البیهقي من طریق الواقدي**)

ژباړه: عمرو بن العاس وپوښتل: کوم لوري ته مو مخه ده؟ خالد بن الولید ځواب ورکړ، محمد ته ور روان یم، ټول خلک په اسلام کې داخل شول، او هېڅ د خوند سړی پاتې نه شو.

د «**رجل ذو طعم**» مفهوم په عربي ژبه کې تقریباً هماغه دی، چې په انګریزي کې (Man of Taste) ورته ویل کېږي. په پښتو ژبه کې یې باذوقه خلک هم بللی شو. حقیقت دا دی، چې د دنیا ټولې کارنامې هغو خلکو کړې دي، چې په ځان کې دا مزاج لري، چې د خپل «ذوق» له مخې د منلو یا نه منلو پرېکړه کولی شي. نور هغه خلک چې د خپلو ګټو

ketabton.com - The Digital Library

او مصلحتونو له مخې روان وي، هغوی تل د خپل ذات په محور کې راتاوېږي. په هغوی نه د ژوند د لويو حقايقو درک وازېږي او نه له هغوی نه د لويو کارونو تمه کېدی شي.

هغه انساني ډله چې په عربو کې مېشته وه، د دې ورتيا تر ټولو عالي مثال وه. دوی د عالي طبيعتونو خلک وو. دوی د خپل دښمن په خلاف هر راز تشدد کولی شوی، خو خپل شان او زمونږ په اصطلاح پښتو يې هېڅکله نه پرېښوده. په هېڅ حال کې هم له هغوی نه د يوه سپک کار تمه نه شوی کېدی. د عربانو د کردار شواهد په تاريخ کې په کثرت سره راغلي دي. دلته به د نمونې په ډول يوازې يوه واقعه راوړو.

په پخوا زمانه کې د ايران ساساني سلطنت او د روم بازنطيني سلطنت دوه سترې رقيبې واکمنۍ وې. په دوی کې به اکثريت وختونه جنګونه روان وو. د اوومې پېړۍ په لومړۍ نيمه کې د دوی ترمنځ څو خونړۍ جګړې پېښې شوې. تر دې چې په ٦١٦ز کې ايرانيانو په روميانو باندې غلبه وموندله. د رومي سلطنت شاوخوا ټولې ختيځې سيمې، اردن، شام، فلسطين، عراق، مصر، د ايرانيانو لاس ته ورغلې او رومي امپراتور قسطنطنيې ته پناه يووړه.

دا سم هماغه وخت وو، چې په مکه کې د اسلام او غيراسلام ترمنځ کشمکش په خپل شديدترين حالت کې روان و. په داسې حالاتو کې د اهلِ کتابو روميانو په مقابل کې د بت‌پرستو ايرانيانو فتحه د مکې د خلکو لپاره د خبرو اترو ځانګړې موضوع وګرځېده. مشرکينو له دې نه د خپلې فتحې فال ونيوه او مسلمانانو ته يې وويل، چې ګاونډ کې چې په څه ډول زمونږ بت‌پرسته وروڼو د اسماني کتاب په حاملينو باندې غلبه وموندله، همداسې به مونږ هم په تاسې باندې غالبه شو. سم په همدې وخت کې د قرآن کريم ۳۰مه سوره نازله شوه او اعلان يې وکړ، چې په څو کلونو کې به بېرته د حالاتو پاڼه په بله واوړي او روميان به په ايرانيانو غلبه ومومي.

د روم سورې دې آيتونو د مکې مخالفينو ته په اسلام باندې د ملنډو وهلو يوه بله سوژه هم ورکړه. ابی بن خلف، ابوبکر صديق ته وويل: داسې هېڅ کله هم نه شي کېدی. که ته په دې يقين لرې، چې همداسې به وشي، نو راځه له ماسره شرط وتړه. همدا وه، چې د دواړو ترمنځ دا شرط وتړل شو، چې که روميان بېرته غالبه شول، نو ابی بن خلف به سل اوښان ورکوي، او که د دې بالعکس کار وشو، نو ابو بکر صديق به سل اوښان ورکوي.

له دې وروسته له قريشو سره د مسلمانانو کشمکش نور هم زيات شو، تر دې چې هجرت وشو او په ٦٢۴ز کې د بدر جګړه رامنځته شوه. په دې جګړه کې د قريشو زياتره سرداران ووژل شوو، چې د اسلام په خلاف يې د هغوی غوسه د جنون تر حده ورسوله. په همدې وخت (٦٢۴ز) کې د روم قيصر ايرانيانو ته د نېنوا (عراق) په سيمه کې پرېکنده ماتې ورکړه او خپلې ټولې له لاسه ورکړې سيمې يې له ايرانيانو بېرته ونيولې. د قرآن کريم وړاندوينه رښتينې ثابته شوه. ابوبکر صديق دا وخت په مدينه کې و. هغه مکه کې ابی بن خلف ته پيغام واستوه، چې د قرآن کريم خبره سمه ثابته شوه، نو

ketabton.com - The Digital Library

اوس ته له خپل شرط سره سم سل اوښان راکړه. دا پیغام مکې ته ورسېده، نو هلته هېڅ سړي هم دې خبرې سره مخالفت ونه ښوده او نه یې دا هڅه وکړه، چې د تأویل او توجیه له لارې یې ناسمه ثابته کړي. له مسلمانانو سره له ټولې دښمنۍ سربېره، له مکې نه سل اوښان مدینې ته واستول شوو. کله چې دا اوښان مدینې ته ورسېدل، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ابوبکر صدیق ته وفرمایل، چې دا اوښان صدقه کړه. حق خبره منل، د خیر د لارې یوازنۍ دروازه ده او دا صفت په پخوانو عربو کې د کمال تر حده موجود و.

همدا هغه عرب وو، چې غوره برخه یې ورنه غوڅه شوه (**آل عمران: ۱۲۷**) او په اسلام کې شامل کړای شوه او نن ورځ یې موږ د رسول الله د صحابوو په نوم یادوو. دا خلک چې کله اسلام ته راغلل، نو د دوی وړتیاوې او صلاحیتونه لا زیات وځلېدل. دوی د داسې عظیمو صفتونو خاوندان شول، چې د دغسې صفتونو سړو نه پخوا په ځمکه کې شپه تېره کړې وه او نه وروسته ولیدل شوو. د جاهلیت بهترین خلک د اسلام بهترین خلک وګرځېدل. (**خیارهم في الجاهلیة خیارهم في الاسلام اذا فقهوا، متفق علیه**)

د اسلام مقصد، د مادیاتو له سطحې څخه د یوه بنده د روحانیاتو سطحې ته لوړول دي. په نورو ټکو کې دا چې بنده د ژوند هغې سطحې ته ورسېږي، چې هلته یې خپله فکري سطحه او د حقیقت د دنیا سطحه دواړه سره نوک او وری شي. بنده چې کله دې مقام ته ورسېږي، نو له یوې خوا په داسې انسان بدل شي چې الهي فیض ورباندې ورېږي، او بلې خواته د ظواهرو پرده د ده له مخه داسې پناه شي، چې نور دی حقایق له حجابونو پرته لیدلی شي.

د ژوند دې سطحې ته د رسېدو یوازنی شرط دا دی، چې انسان د خپل ذات له قالب نه بیرون راووځي، له ځان نه خپل ځان ببل کړي او خپل ځان د سترګو مخې ته ودروي. بنده چې کله له خپل قالب نه راوځي، نو نبغ په نېغه د الهي فیض باران ته درېږي. د ده لپاره حقایق، هغه که د دې دنیا وي یا د بلې دنیا، داسې اشنا شی وګرځي، لکه د مور لپاره چې خپل اولاد وي. خو دا بلند مقام یوازې بلند فطرته خلکو ته ورکول کېږي. دې مقام ته د رسېدو لپاره چې خپل ځان باید په څه ډول وځپل شي، د هغه همت یوازې هغه خلک کولی شي، چې له ټولو مصلحتونو او ګټو څخه پورته د فکر کولو وړتیا لري. پست فطرته خلک هېڅ کله هم د خپل ذات له قالب څخه بیرون نه وځي. همدا ده، چې هغوی په اسلام کې هم کوم لوړ مقام نه شي تجربه کولی:

**وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ** (**حم سجده: ۳۵**)

ژباړه: او دا (خصلت) پرته له هغو چې صبر یې کړی وي، بل چاته نه ورکول کېږي او د لویې برخې والا نه پرته یې بل څوک نه شي موندلی.

ketabton.com - The Digital Library

## د معاصرينو نظرونه

د رسول الله د ملگرو په هکله دلته د هغوی د ځينو معاصرينو تاثراتو ته تم کېږو:

- **عن عبدالله بن مسعود قال ان الله نظر في قلوب العباد فاختار محمدا صلى الله عليه وسلم فبعثه برسالته و انتخبه بعلمه، ثم نظر في قلوب الناس بعده فاختار الله له اصحابا فجعلهم انصار دينه و وزراء نبيه صلى الله عليه وسلم،** (ابن عبدالبر، الاستيعاب، جلد ۱، صفحه ۶)

ژباړه: عبدالله بن مسعود وايي، الله تعالی د خپلو بندگانو زړونو ته وکتل، نو محمد صلی الله عليه وسلم يې په کې غوره کړ او په پيغمبري يې مبعوث کړ او د هغه د علم له امله يې انتخاب کړ. بيا يې د خلکو زړونو ته وکتل، نو د پيغمبر عليه السلام لپاره يې ملگري غوره کړل او هغوی يې د خپل دين انصار او د خپل پيغمبر وزيران وگرځول.

حسن بصري تابعی (مړ ۱۱۰هـ) يو ځل د خپلې زمانې خلکو ته وويل:

- **لقد ادرک سبعين بدرياً اکثر لباسهم الصوف وَلو رأيتموهم لقلتم مجانين ولو رأوا خيارکم لقالوا ما لهولاء من خلاق. ولو رأوا شرارکم لقالو ما يؤمن هولاء بيوم الحساب.**

ژباړه: ما اويا بدري صحابه ليدلي دي. د هغوی لباس به زياتره د وړيو و. که تاسې ليدلي وای، نو ويل به مو چې دا خو لېوني دي. او که هغوی ستاسې مخور ليدلي وای، نو هغوی به ويلي، چې د دوی په دين کې هېڅ برخه نشته. او که يې ستاسې بدان ليدلي وای، نو ويل به يې چې دا خلک د حساب په ورځ ايمان نه لري.

- **عن عبدالله بن عمر قال، اولئک اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم کانوا خير هذه الامة ابرها قلوبا و اعمقها علما و اقلها تکلفا.** (ابونعيم، حلية الاولياء، **جلد ۱، صفحه ۳۰۵**)

ژباړه: عبدالله بن عمر فرمايي، د محمد صلی الله عليه وسلم ملگري د امت تر ټولو غوره خلک وو. د ډېرو نېکو زړونو واله، د ډېرې ژورې پوهې خاوندان او له تکلفاتو ډېر لرې وو.

- **عن عبدالله بن مسعود قال، انتم اکثر صياما و اکثر صلاة واکثر اجتهاد من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم وهم کانوا خيرا منکم. قالوا لِمَ يا ابا عبدالرحمن. قال هم کانوا ازهد في الدنيا و ارغب في الآخرة** (حلية الاولياء، **جلد ۱، صفحه ۱۳۶**)

ژباړه: حضرت ابن مسعود د خپلې زمانې خلکو ته وويل: تاسې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له اصحابو په لمانځه او روژه کې زيات ياستئ. له هغوی نه زياتې مجاهدې کوئ. خو هغوی تر تاسې ډېر بهتر وو. خلکو

ketabton.com - The Digital Library

وپوښتل، هغه ولې؟ هغه ځواب ورکړ، هغوی له دنیا نه مخ اړولی و او یوازې اخرت ته یې مخ ګرځولی و.

- **قال علي بن ابی طالب، والله لقد رأیت اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم فما اری الیوم شیئا یشبههم لقد کانوا یصبحون صفرا شعثا غبرا، و حملت اعینهم حتی تبل ثیابهم، والله فکأن القوم باتوا غافلین (البدایة والنهایة، جلد ۸، صفحه ۶)**

ژباړه: علي بن ابي طالب وويل، په خدای قسم ما د رسول الله صحابه لیدلي دي، نن ورځ هېڅ شی هم د هغوی په څېر نه دي، هغوی به په تش لاس، ګډوډو وېښتو او ګردونو لړلي (حالت کې شپه) سهار کوله. د هغوی سترګو به دومره اوښکې بهولې، چې کالي به یې لامده شوو. په خدای قسم! نن ورځ د خلکو حالت ته په کتو داسې ښکاري، ګواکې شپه یې په غفلت کې تېره کړې.

- **سئل عبدالله بن عمر، هل کان اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم یضحکون. قال نعم والایمان في قلوبهم اعظم من الجبال. (اخرجه ابو نعیم عن قتادة)**

ژباړه: له عبدالله بن عمر نه وپوښتل شوو، چې ایا د نبي صلی الله علیه وسلم صحابوو به هم خندل؟ هغه وویل، هو. خو ایمان یې په زړونو کې له غرونو نه هم ډېر ستر و.

- **دخل ضرار بن ضمرة الکناني علی معاویة فقال له. صف لي علیا. قال: انه کان یستوحش الدنیا و زهرتها، ویستأنس باللیل و ظلمته. کان والله غزیر العبرة، طویل الفکرة. یقلب کفه و یخاطب نفسه. یعجبه من اللباس ما قصر و من الطعام ماجشب. یعظم اهل الدین ویحب المساکین لایطمع القوی في باطله. ولا ییأس الضعیف من عدله. فاشهد بالله لقد رأیته في بعض مواقفه و قد ارخی اللیل سدد له وغارت نجومه یمیل في محرابه قابضا علي لحیته یتململ تململ السقیم، و یبکي بکاء الحزین. فکأني اسمعه الآن و هو یقول یا ربنا یا ربنا (ابو نعیم)**

ژباړه: ضرار بن ضمرة د امیر معاویه خواته راغی. امیر معاویة وویل، ماته د علي اوصاف بیان کړه. هغه وویل، علي له دنیا او د هغې له ځلبل نه وحشت وړه. له شپې او د شپې له تیارې سره یې مینه وه. په خدای قسم هغه ډېر زیات عبرت اخیستونکی او ډېر زیات مفکر انسان و. خپل ورغوی به په یوه بله اړاوه او خپل نفس به یې سکونډه. مختصرې جامې او عادي خواړه یې خوښ و. د دینداره خلکو یې درناوی کاوه، مسکین وګړي ورباندې ګران و. زورور په خپل باطل کې له هغه نه تمه نه شوی کولی او کمزوري ته د ده له عدل نه ناهیلي نه درېده. زه د خدای په شاهدي دا خبره کوم، چې ما علي په ځینو وختونو کې لیدلی دی، چې د شپې تیاره به خوره وه او ستوري به تت شوي وو. دی په خپل

ketabton.com - The Digital Library

محراب کې ناست و، بږيره يې نيولې وه او داسې نارامه و لکه زهرجنې خزندې چيچلی کس چې نارامه وي. د غمجن کس غوندې يې ژړل، لکه دا اوس هم چې د هماغې بې قرارۍ په حالت کې يې دا خبره اورم، چې ويل يې «يا ربنا، يا ربنا» (اې زما ربه، اې زما ربه.)

## په چارو کې اخروي اړخ ته لومړيتوب ورکول

د يرموک په جګړه کې خالد بن وليد (مړ ٦۴٨ز) د اسلامي پوځونو سپه سالار و او ابو عبيده بن الجراح د هغه تر لاس لاندې د يوه افسر په حيث په جګړې کې شريک و. حضرت عمر چې خليفه شو، نو هغه خالد بن وليد معزول کړ او ابو عبيده بن الجراح يې سپه سالار مقرر کړ او خالد بن وليد يې د هغه په ماتحتي کې مقرر کړ. هغه شخص چې دا فرمان يې له مدينې ورسره وړی و، د جګړې ځای ته په داسې شېبه کې ورسېده، چې له اوږدې نښتې وروسته جګړه خپلې وروستۍ پايلې ته نيږدې وه او د فتحې نښانې په ښکارېدو وې. قاصد دا فرمان لومړی ابو عبيده بن الجراح ته ورکړ. ابوعبيده د خلافت له فرمان سره سم سمدستي د سپه سالارۍ بيرغ په خپل لاس کې اخيستی او د فتحې کريډېټ يې د ځان په نوم نومولی شوی. خو هغه داسې ونه کړل، بلکې د خالد بن وليد تر قومندې لاندې يې جګړې ته دوام ورکړ:

**فاخفى ابو عبيدة الخبر و صارنى مكانه خلف خالد حتى ظهرت مقدمات النصر. وقد سئل عن عدم اخذه بلواء القيادة على الفور فقال: ما سلطان الدنيا اريد وما للدنيا اعمل.**

ژباړه: ابو عبيده دا خبره پټه کړه او ځان يې د خالد تر لاس لاندې په خپل حال کې برقرار وساته تر دې چې د فتحې نښانې ښکاره شوې. له ده وپوښتل شوو، چې د مشرۍ بيرغ مو سمدستي ولې ونه نيوه. ده وفرمايل: زه د دنيا لويي نه غواړم او نه د دنيا لپاره عمل کوم.

د اخرت په لحاظ کريډېټ دا و، چې دا خبره پټه ساتل شوې وای. مګر د دنيا کريډېټ په دې کار ترلاسه کېده، چې دا خبره ميدان ته رااېستل شوې وای. ابوعبيده د اخرت کريډېټ خوښ کړ او د دنيا کريډېټ يې له پامه وغورځاوه.

اوس د خالد بن وليد کردار ته وګورئ. د يرموک له فتحې وروسته چې کله خلکو ته معلومه شوه، چې د دې سترې جګړې فاتح (خالد بن وليد) له سپه سالارۍ نه معزول کړای شوی دی، نو په هغوی کې ډېره زياته نارامي پيدا شوه. ډېری خلک د خالد شاوخوا ته راټول شوو، هغوی د حضرت خالد په زړورتيا او مېړانه ويناوې وکړې او د هغه په معزولي يې خپله نارضايتي ښکاره کړه. خالد يې ولمساوه، چې د خليفه د امر له منلو انکار وکړي او ژمنه يې وکړه، چې موږ به ستا ملګرتيا کوو. (**يحرضونه على عصيان امر الخليفة ويعدونه بانهم سيكونونه معه**) خو خالد بن وليد له دغه راز مشورې منلو نه وچ انکار وکړ. او په دې راضي شو، چې د ابو عبيده بن الجراح تر لاس لاندې د يوه عادي پوځي په حيث له اسلام

ketabton.com - The Digital Library

دښمنه ځواکونو سره وجنګېږي. په دې وخت کې چې ده کومه جمله وویله، تاریخ هغه جمله په دې ټکو کې خوندي کړې ده:

**اني لا اقاتل في سبيل عمر ولکن في سبيل رب عمر** ژباړه: زه د عمر په لاره کې نه جنګېږم، بلکې د عمر د رب په لاره کې جنګېږم.

## له احساساتو لوړ فکر کول

په یوولسم هجري کال کې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم له نړۍ نه سترګې پټې کړې، نو زیاتره مسلمانانو ټکان وخوړ. د عمر فاروق حال دا شو، چې د مدینې په جومات کې له تورې سره ودرېده او ویې ویل، چې هر څوک دا خبره وکړي، چې رسول الله وفات شوی دی، نو غاړه به ورنه پرې کړم. ابوبکر صدیق د رسول الله په مینه کې له ټولو خلکو نه ډېر وړاندې و. د هجرت په وخت کې چې کله نبي کریم ص ناڅاپه د ابوبکر صدیق کور ته راغی او ویې فرمایل، چې ماته مکې ته د تلو امر وشو، نو ابوبکر صدیق لومړنۍ خبره دا وکړه، چې «ستاسې ملګرتیا به زما هم په برخه شي؟» نبي کریم ص وفرمایل، هو. دا سفر په ظاهره د مرګ سفر و. خو په دې نازکه شېبه کې هم د رسول الله ملګرتیا هغه ته دومره محبوبه وه، چې د خوشالۍ له لاسه یې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې. سره له دې چې د عشق تر حده یې له رسول الله سره عقیدت و، خو بیا هم چې کله خبر شو، چې رسول الله وفات شوی دی، نو جومات ته راووت چې په خوا کې یې د رسول الله حجره هم وه. دلته خلک حیران او پرېشان ناست وو. عمر فاروق اصلاً د دې خبرې له منلو انکار کړی و، چې رسول الله ته هم مرګ هم راتللی شي. خو ابوبکر صدیق خپله اروا له بالایي عالَم سره دومره همغږې کړې وه، چې د اصلي حقیقت په درک کولو کې یې هېڅ ځنډ ونه غوښت. د رسول الله له مخه یې پړونی واړاوه، پیغمبر یې ښکل کړ او بیا یې وفرمایل: **بابی انت و امی، اما الموته التی کتب الله علیک فقد ذقتها، ثم لمن تصیبک بعدها موتة ابدا** (ژباړه: هغه مرګ چې الله تاسې ته ټاکلی و، د هغې څکه مو وکړه. له دې وروسته درته هېڅ مرګ راتلونکی نه دی.) بیا یې د خلکو غونډې ته تشریف یووړ او وینا یې ورته وکړه:

**ایها الناس، انه من کان یعبد محمدا فان محمدا قد مات، ومن کان یعبدالله فان الله حی لا یموت.** (**تهذیب سیرة ابن هشام، جزء ثانی، صفحه ۱۵۵**) ژباړه: اې خلکو! چا چې د محمد لمانځنه کوله، نو محمد مړ شو. او چا چې د خدای لمانځنه کوله، نو خدای ژوندی دی او هېڅ کله نه مري.

دا د بندګي هغه مقام دی، چې بنده د مینې او کرکې له ذهنیت نه په واټن کې د حقیقت مشاهده کوي. داسې کامل وګړي په لومړني دور کې هم کم وو او په وروسته زمانه کې خو شاید دا راز خلک هېڅ پیدا شوي نه دي. **الا ماشاءالله**

ketabton.com - The Digital Library

د رسول الله اصحابو همدغه بندګي د قرآن کريم د ټولولو په برخه کې هم وښودله. د ابوبکرصديق د خلافت په زمانه کې چې کله زيد بن ثابت انصاري قرآن کريم تدوين کړ، نو د هغه له نسخې وروسته ډېر زيات اجزاء پاتې شول، چې د قرآن کريم آيتونه او سورتونه ورباندې ليکل شوي وو. د ټولو صحابوو په مشورې سره هغه ذخيره وسوځول شوه. دغه راز د عثمان غني د خلافت په زمانه کې چې کله د قرآن کريم نسخې راټولې کړای شوې او څو مستندې نسخې چمتو شوې، نو ډېرې زياتې نسخې پاتې شوې، چې راز راز خلکو ليکلې وې. دا پلا هم د رسول الله د صحابوو په ګډه مشوره له دولتي نسخو پرته نورې ټولې نسخې د اور لمبو ته وسپارل شوې. «قرآن» د يوه ستر ديني مصلحت له مخې سوځول، د داسې زړورتيا کار دی، چې يوازې داسې خلکو ترسره کولی شوی، چې حقيقت ته له هغه لوړ مقام څخه ګوري، چې هلته بل هر شی پناه کېږي او بې له لوړ حقيقت نه بل هېڅ شی هم د توجه مرکز نه ګرځي.

## په اختلاف سربېره په عدل درېدل

عمر فاروق د خپل وخت د يوه ستر سلطنت حاکم و. ده يو ځل په يوه وينا کې وويل: که تاسې په ما کې کومه خطا ووينئ، نو تاسې به څه کوئ. يو سړی پاڅېده او ويې ويل:

**والله لو علمنا فيک اعوجاجا لقومناه بسيوفنا**. ژباړه: په خدای قسم! که په تا کې مو کوږوالی وليده، نو په خپلو تورو به يې درسم کړو.

عمر فاروق د دې «بې ادبي» لپاره د سړي د رټلو په ځای وفرمايل: **الحمدلله ان جعل في المسلمين من يقوم اعوجاج عمر بسيفه** (د خدای شکر دی چې په مسلمانانو کې يې داسې خلك پيدا کړي دي چې د عمر کوږوالی به په تورې سره سم کړي) عبدالله بن عباس وايي، چې عُيَينه بن حِصن مدينې ته راغی او له عمرفاورق سره يې وليدل. هغه وويل:

**هی يا ابن الخطاب، فوالله ما تعطينا الجزل ولا تحکم فِنَا بِالعَدل**. ژباړه: اې د خطاب زويه! په خدای قسم! نه ته موږ ته څه راکوې او نه زموږ په منځ کې انصاف کوې.

عمر فاروق په دې خبره غوسه شو او د سړي په وهلو پسې پورته شو. د دې په ليدو حُر بن قيس وويل: اې امير المؤمنينه! د الله تعالی فرمان دی چې «ببښنه وکړئ او له ناپوهانو په څنګ اوسئ.) او يقيناً دا جاهل سړی دی. ابن عباس وايي: **والله ما جاوزها عمر حين تلاها عليه وکان وقافا عند کتاب الله تعالی** (**بخاري**) ژباړه: په خدای قسم! د قرآن کريم د آيت له اورېدو وروسته عمر هېڅ تېری ونه کړ. هغه د خدای په کتاب باندې ډېر زيات ولاړ انسان و.

ketabton.com - The Digital Library

په ذات السلاسل غزوه (اتم هجري) کې لومړی عمرو بن العاص له ۳۰۰ لښکر سره د وادی القرا په لور لېږد کړای شو. وروسته نبي کریم صلی الله علیه وسلم ابو عبیده بن الجراح له دوو سوو مهاجرینو او انصارو سره لېږد کړ او دوی ته یې بیرغ هم ورکړ. د رخصتولو په وخت کې نبي کریم ص دا هدایت ورته وکړ، چې ته او عمرو بن العاص دواړه په ګډه کار وکړئ، اختلاف مه سره کوئ (**اذا قدمت علی صاحبک فتطاوعا ولا تختلفا**)

کله چې دی د عمرو بن العاص څنګ ته ورسېده، نو ابوعبیده بن الجراح وغوښتل، چې د خلکو امامت وکړي. عمرو بن العاص وویل، چې تاسې د مرستې او لاسنیوي په موخه رااستول شوي یاستئ. دا سمه نه ده، چې امامت خو تاسې وکړئ او امیر دې زه یم. د ابو عبیده ډلې، چې د ابوبکر او عمر غوندې مخور هم په کې وو، وویل چې عمرو بن العاص د خپلې ډلګۍ امیر دی او ابوعبیده د خپلې ډلې. خو عمرو بن العاص له دغسې وېش سره موافقه ونه کړه او ویې ویل، چې تاسې زما د مرستې لپاره رااستول شوي یاستئ. اصلي مشر زه یم (**انما انتم امددت بکم فانا القائد**) اوس ابوعبیده بن الجراح خپل حق بېرته واخیست او ویې ویل: رسول الله چې ماته وروستی نصیحت کړی و، هغه دا و، چې زه او عمرو بن العاص په ګډه سره کار وکړو او په خپلو اختلاف کې ونه کړو، نو ځکه زه به په هېڅ حال کې هم جګړه ونه کړم:

**وانک والله ان عصیتنی لاطعتک.** ژباړه: په خدای قسم! که ته زما خبره ونه منې، بیا به هم زه ستا اطاعت کوم.

دغه راز منفي خبرې چې د بنده په ژوند کې راشي، نو سمدستي د انسان انا سر راهسک کړي. په داسې نازکو شېبو کې خپل ځان د عاجزي او بندګي په دایره کې محدود ساتل، زندان ته له تلو او دار ته له ختلو هم ډېر مشکل کار دی. د دغسې ازمایښت له عهدې یوازې هغه خلک وتلی شي، چې خپل ذات یې نفي کړی او د خدای په بندګي کې شامل شوي وي.

## د مؤمن ځیرکتیا

د یوه حدیث الفاظ دا دي:

**اتقوا فراسة المؤمن فانه ینظر بنور الله.** ژباړه: د مؤمن له هوښیاري نه ووېرېږئ، په دې چې مؤمن د خدایي نور په رڼا کې شیانو ته ګوري.

له دې ښکاري، چې که ایمان یوه لوري ته د بلې دنیا حقیقتونه په بنده باندې روښانوي نو په خوا کې یې د اوسنۍ دنیا حقایق هم ورته افشا کوي، تر دې چې نظر یې دومره بې پولې او بې سرحده شي، چې د دنیا په چارو کې خورا عقلاني

ketabton.com - The Digital Library

پرېکړې وکولی شي او داسې تګلارې وړاندیز کړي، چې پرېکندې پایلې ته د رسېدو په مقابل کې یې هېڅ ډوک هم خنډ نه شي.

دلته به یې د مثال لپاره یوازې دوه حوالې یادې کړم. عمر فاروق یو ځل وفرمایل:

**لیس العاقل الذي یعرف الخیر من الشر ولکنه الذي یعرف خیر الشرین.** ژباړه: عقلمن هغه نه دی، چې خیر او شر پېژني، عقلمن هغه دی، چې د دوو شرونو ترمنځ خیر وپېژني.

د دوهم خلیفه په دې وینا کې د ژوندانه د چارو خورا ژور شعور سترګکونه وهي. دا یو حقیقت دی، چې په ژوند کې ډېر کم داسې پېښېږي، چې د انسان لپاره دې د خیر او شر په منځ کې د انتخاب فرصت وي. البته دا احتمال همېشه موجود وي، چې په دوو ناخوښو حالتونو کې هغه حالت ته غېږه ورکول شي، چې د «خیر» په لور د خپل سفر د لنډولو فرصت په کې نغښتی وي. هغه څه چې نن ورځ نه حاصلېږي، هغه سبا ورځ له اضافي چمتووالي وروسته ترلاسه شي. دوهم خلیفه په خپله دې مختصره جمله کې د دنیا نیم سیاست بیان کړی دی. دې ژور سیاسي راز ته هغه له دې امله ورسېدی شو، چې د عکس العمل له ذهنیت نه په لوړېدو یې په چارو باندې غور او فکر کولی شوی.

په اوسنۍ زمانه کې په اسلامي هېوادونو کې له راپورته شویو د اسلامي غورځنګونو له مثال نه د دې وینا په حکمت ډېر ښه پوهېدی شو. په دې هېوادونو کې د اسلامي رهبرانو مقصد دا و، چې د غیراسلامي طرز حاکمان راوپرځوي او د اسلامي طرز  حاکمان د واک په ګدۍ کېنوي. دوی انګېرلې وه، چې دوی په دې حالت کې دي، چې د خیر (اسلامي نظام) او شر (سیکولر نظام) ترمنځ دې یو انتخاب کړای شي. په همدې فرضیې، دوی د «شر» د ختمولو لپاره جدوجهد پیل کړ، تر څو د «خیر» د راپورته کېدو فرصتونه پیدا شي. په زیاترو هېوادونو کې دوی په دې کې بریالي شول، چې له نورو سیاسي ځواکونو سره ګډ سنګر ټینګ کړي او خپل انګېرلی شر له اقتدار نه راوپرځوي. (په انډونیزیا کې ولندیزي، په مصر کې شاه فاروق، په هندوستان کې انګرېزان، په پاکستان کې ایوب او بوټو، او داسې نور) خو له دې بریا وروسته یې چې کومه پایله راووته، هغه یوازې دا وه، چې د فاروق په ځای ناصر، د ایوب په ځای بوټو، د ولندیزي په ځای سوئیکارنو او د ښکېلاکي ځواکونو په ځای «اکثریت» د اقتدار په کرسۍ باندې منګولې خښې کړې. ګواکې دوی یوازې په دې پوزیشن کې وو، چې د دوو شرونو له منځ څخه یو شر انتخاب کړي، نه په حقیقي معنا کې د خیر او شر له منځه د یوه د انتخاب په موقف کې. دې غورځنګونو چې کوم ځواک د یوه شر د پرځولو او د بل شر د راوستلو په ډګر کې ولګاوه، که همدا ځواک دوی د اسلام په خپراوي او استحکام کې لګولی وای، نو په ډېره بهتره توګه یې د «خیر» د منزل په لور سفر کولی شوای.

ketabton.com - The Digital Library

د علي بن ابي طالب په زمانه کې د تحکیم واقعه پېښه شوه، تر هغه وروسته د علي له پوځ نه شاوخوا ۱۰ زره کسانو لاره بېله کړه، چې عموماً د خوارجو په نوم مشهور دي. دا خلک د څلورم خلیفه په خلاف په ډېر سخت قهر او غوسې کې مبتلا وو او له خلیفه سره د جنګېدو خبرې یې کولې. د علي ملګرو هغه ته مشوره ورکړه، چې مخکې له دې چې خوارج په موږ یرغل راوړي، موږ به پخپله په هغوی برید وکړو او هغوی به له منځه یوسو. علي بن ابي طالب وفرمایل:

**لا اقاتلهم حتی یقاتلونی، و سیفعلون.** (**عباس محمود العقاد، العبقریات الاسلامیة دارالآداب بیروت ۱۹۶۶، صفحه ۶۶۴**)

ژباړه: زه له هغوی سره نه جنګېږم، تر څو چې هغوی له ماسره ونه جنګېږي، او هغوی به خامخا دا کار کوي.

د څلورم خلیفه دغه لس زره ملګري له هغه سره وران شوي او له ډېر طعن او پیغور وروسته په خورا نازکه شېبه کې یې د هغه ملګرتیا پرې ایښې وه. که څلورم خلیفه هم د هغوی په څېر په منفي فکرونو مبتلا شوی وای، نو هېڅ کله یې پاسنۍ خبره نه شوی کولی. خو حضرت علي ټوله معامله د یوه نا اغېزمن شوي ذهن له مخې سنجوله. همدا وجه ده، چې دې ژور راز ته په رسېدو کې بریالی شو، چې د خوارجو دغه ډله خورا جذباتي خلک دي او خپلې غوسې او کرکې له موږ نه بېل کړي دي. په دغه راز ذهنیت کې اخته وګړي تر ډېره پورې صبر نه شي کولی. د هغوی بې صبري به ارومرو هغوی لمسوي، چې په موږ برید وکړي. نو په داسې حالت کې د تجاوز الزام موږ په خپله غاړه ولې واخلو؟ موږ باید دې ته په تمه شو، چې لومړی تجاوز هغوی وکړي. کله چې هغوی تېری وکړ او زموږ لپاره یې د جنګ جواز پیدا کړ، نو هغه وخت به په ډېر بهتر شکل کې زموږ لپاره دا فرصت وي، چې په هغوی ښه زورور یرغل وروړو او بېخونه یې ور ونړوو.

## د پېش‌بیني وړ کردار

د قرآن کریم په ٦٧ سوره کې راغلي دي، چې د خدای په کایناتو کې هېڅ «تفاوت» نشته. د تفاوت معنا فرق او ناهمغږي ده، تفاوت الشیئان، یانې د دوو شیانو یو تر بله جلاوالی. مطلب دا دی، چې بې له انسان نه په ټول کاینات کې د مطلوب او عمل ترمنځ هېڅ تضاد نشته. ټول کاینات د خدای له تخلیقي طرحې سره بالکل سم روان دی. دا خبره په نورو ټکو کې داسې هم کولی شو، چې ټول کاینات په بشپړه توګه د فطرت له قوانینو سره همغږی دی. دا همغږي دومره زیاته ده، چې د کاینات د ټولو پېښو په هکله په ډېر صحت سره پېش‌بیني کولی شو. موږ چې کله د فطرت په قوانینو پوه شو، نو په پوره اعتماد سره دا خبره کولی شو، چې په پلاني حالت کې به پلانۍ نتیجه ترلاسه شي. په اور باندې د اوبو له کېښودو نه نیولې بیا د سیارې په لور د مصنوعي سپوږمکۍ د توغولو تر حده ټول فعالیتونه د همدې لپاره سم ترسره کېږي، چې موږ په دې یقین لرو، چې د کاینات هر جزء په بشپړه توګه د خپل قانون پیروي کوي او انحراف نه ورنه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

د فکر او عمل همدا مطابقت له انسان نه هم مطلوب دی. الله تعالی چې په څه ډول د مادي کاینات لپاره طبیعي قوانین ټاکلي دي او ټول کاینات په بشپړ اطاعت له هغو پیروي کوي. همدغه راز يې د انسان لپاره شرعي قوانین وضع کړي دي. خدای غواړي، چې انسان له دې قوانینو سره همغږی ژوند تېر کړي. ځکه او اسمان خدای په خپل زور سره ټاکلو قوانینو ته اېل کړي دي، له انسان نه دا مطلوب دی، چې په خپل اختیار سره ځان له خپلو قوانینو سره همغږی کړي. په څه شکل چې طبیعي دنیا د فطرت د قوانینو له مخې په بشپړه معنا د پېش‌بیني وړ ده، همدا راز الله تعالی ته دا مطلوب دی، چې له اخلاقي پلوه انسان هم د پېش‌بیني وړ شي. مؤمن خپله شخصي اراده د خدای ارادې ته تابع کوي، په همدې سره بنده د پېش‌بیني وړ ګرځي. له مؤمن سره د راشې درشې په وخت کې بنده ترمخ لا اټکل کولی شي، چې دی به له څه ډول غبرګون سره مخ کېږي.

حسن بصري تابعي د نفاق (د ایمان ضد حالت) تعریف په دې ټکو کې کړی دی:

| | |
|---|---|
| **من النفاق اختلاف القلب واللسان واختلاف السّر والعلانية و اختلاف الدخول و الخروج.** (**جامع العلوم والحکم، صفحه ۳۷۷**) | ژباړه: نقاق دا دی، چې په زړه او ژبه کې دې فرق وي، په پټ او ښکاره کې دې فرق وي، په ننوتو او وتو کې دې فرق وي. |

د رسول الله د صحابوو ایمان دغه راز فرق د هغوی له ژوندانه نه ختم کړی و. هغسې چې د ماشین لارښودپاڼې ته په کتو انسان پوهېږي، چې ماشین څنګه کار کوي، په همدې ډول د قرآن او سنت په لیدو هم یو بنده دا معلوموی شوی، چې په یوه مسئله کې به د رسول الله د صحابوو غبرګون څه وي. بنده پوهېدی شوی، چې یو صحابي سره چې کله د تړون او معاهدې معامله راشي، نو هغه به یې ارومرو سرته رسوي (**بقره ۱۷۷**). که مالي راکړه ورکړه وي، نو ادا‌ینه به يې په سمه توګه ترسره شي (**مائده ۱**) که له کوم لامله اختلاف پیدا شي، نو د عدل خلاف رویې سره به نه مخ کېږي (**مائده ۸**) که حاکم وي یا ماتحت، په دواړو حالتونو کې به په هغو حدونو ولاړ وي، چې د ده رب ورته ټاکلي دي (**توبه ۱۱۲**) که په چا غلبه ومومي، نو د ظلم او لویي ښودنه به نه کوي (**من کظم غيظا وهو قادر على ان ينقذه.. ابو داؤد، ترمذي**) که یې تېروتنه ونیول شي، نو له دې نه به د پت او عزت مسئله نه جوړوي او په خپلې تېروتنې باندې به کلک نه درېږي، بلکې په ښکارو ټکو کې به یې اعتراف کوي (**بقره ۲۰۶**) په هغه باندې د خپلې خبرې د منلو لپاره به ځواک ته اړتیا نه وي. یوازې یو لفظي دلیل به د دې لپاره بس وي، چې خپله خبره ورباندې ومنل شي (**محمد ۳**) تر دې چې د صحابي په هکله سړي تر دې بریده یقین کولی شوی، چې زما په سودا خپله سودا نه کوي (**لا يَبِع بَعضُکم على بيعِ بعض – مسلم**) که داسې کومه خبره مخې ته راشي، چې د ده په علم او مطالعه کې نه وي، نو په صافه طریقه به یې درته ووایي، چې زه نه پوهېږم (**من لم يعلَم فَلیقُل الله اعلم، بخاری**) مادي کاینات په «غوښتي او ناغوښتي» ډول د

ketabton.com - The Digital Library

خدای له طرحې سره سم پنځول شوی دی. د رسول الله صحابوو په خپله خوښه ځان له خدايي طرحې سره برابر کړی وو. **رضي الله عنهم و رضوا عنه** (بينه)

د رسول الله د صحابوو همدغه د پېش‌بيني وړ کردار، هغوی ته له نورو انسانانو څخه امتياز وربښي. يو بنده چې د نفس او شيطان په واک کې وي، نو وار له مخه د دې اټکل نه شي کېدی، چې په يوه معامله کې به دی څه ډول غبرګون ښيي. خو کله چې بنده په حقيقي معنا کې له ځانه د خدای بنده جوړ کړي، نو هغه داسې د پېش‌بيني وړ وګرځي په څه ډول چې نور کاينات د پېش‌بيني وړ دی.

په اوسنۍ زمانه کې ځينو ماشيني ټولنو کوششونه کړي دي، چې ځان له تخنيکي پلوه د پېش‌بيني وړ وګرځوي. يو هندوستانی ګرځندوی د جاپان په رېل‌ګاډي کې روان و. ده وليدل، چې د تمځايونو نومونه يوازې په جاپاني ژبه کې ليکل شوي دي. خو د جاپان رېل‌ګاډي خپل مهالوېش بيا په انګرېزي ژبه کې هم چمتو کوي. هندوستاني ګرځندوی د لارې جاپاني ملګري ته شکايت وکړ، چې تاسې د تمځايونو په تختو يوازې په جاپاني ژبه نوم ليکئ، زما په څېر يو انسان به څنګه پوهېږي، چې د ده مطلوب تمځای رسېدلی دی. جاپاني مسافر ورته وويل، «د دې حل ډېر آسان دی. تاسې خپل ساعت سم کړئ او هغه انګرېزي مهالوېش چې تاسې سره دی، په هغه کې يې وګورئ، چې ستاسې مطلوب تمځای ته د ګاډي د رسېدو وخت څه دی. ستاسې د ساعت ستنه چې ټاکلي وخت ته ورسېږي، نو رېل‌ګاډی به مو په هماغه تمځای ولاړ وي.»

## کم خلک...

**بيک جي د ميوات مشهور صوفي شاعر دی. دی درې سوه کاله پخوا په اوړکي (راجستان) کې په يوه کورنۍ کې نړۍ ته راغی. په بډيډ کې اوس هم د بيک جي او د هغه د شيخ سليم شاه مزار اباد دی. بيک جي له کور نه مخه وکړه او د دروېشانو ژوند يې غوره کړ. د ده ډېر شعرونه په ولس کې مشهور دي. يو شعر يې دا دی:**

**پی پیا کے دیس بڑی کٹھن ہے گیل**
**کوئی کوئی جائیگو سلجھا بیل**

**مطلب يې دا دی، چې د محبوب (خدای) وطن (اخرت) ته ورغلې لاره ډېره خنډنه ده. ډېر کم خلک به وي، چې د لارې له ازغيو نه ځان روغ تر هغه ځايه ورسوي.**

د نقشې او عمل ترمنځ دغه مطابقت چې ځينو ماشيني ټولنو په تخنيکي کچه حاصل کړی دی، همدا مطابقت له انسان نه په شرعي او اخلاقي اعتبار هم مطلوب دی. د رسول الله صحابه په بشري تاريخ کې د دې معيار تر ټولو بريالۍ نمونه ده. د هغوی په هکله وار له مخه د دې اټکل کېدی شوی، چې په يوه معامله کې به د هغوی برخورد څه

ketabton.com - The Digital Library

وي. او که په بشري کمزورۍ يا ناپامي کې به يې کله د عقيدې او عمل ترمنځ فرق راغی، نو له متوجه کولو وروسته به يې سمدستي د هغې اصلاح کوله:

**ذهب بلال الی عمر مستاذنًا فقال له الخادم انه نائم. فسأله کيف تجدون عمر. قال: خير الناس الا انه اذا غضب فهوا مر عظيم. قال بلال: لو کنتُ عنده اذا غضب قرأتُ عليه القرآن حتی يذهب غضبه.** (**العبقريات الاسلامية، صفحه ۳۹۷**)

ژباړه: بلال يوه ورځ د عمر فاروق ليدو ته ورغی. خادم يې ورته وويل، چې عمر ويده دی. بلال له خادم نه وپوښتل، چې تاسې عمر څنګه مومئ؟ خادم ځواب ورکړ: عمر په خلکو کې غوره انسان دی. خو کله چې په غوسه شي، نو غوسه يې ډېره زياته سخته وي. بلال وويل، که زه يې د غوسې په وخت کې په خوا کې وای، نو ما به يې په مخکې قرآن لوسته، تر دې چې غوسه يې تللې وای.

---

## چې کله قران پرې ایښی کتاب شي

د قرآن کريم په ۲۵مه سوره کې راغلي دي:

**وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا.** (**فرقان: ۳۰**)

ژباړه: او رسول وويل: اې زما ربه! زما قوم خو دا قران هسې پالتو پرېښود.

دې آيت نه لومړی هغه ډله خلک مراد دي، چې قرآن يې مخې ته راشي، خو هغوی ايمان نه ورباندې راوړي. هغسې چې په مکې دور کې قريشو وکړل. خو د دې ذهنيت عملي څرګنداوی کله نا کله د هغو خلکو له لوري هم کېږي، چې په ظاهره د قرآن کريم د منونکو په ډله کې شامل وي. مولانا شبير احمد عثماني په خپل تفسير کې د دې آيت لاندې ليکي: «سره له دې چې په آيت کې يوازې د کافرانو ذکر دی. خو د قرآن کريم رښتونی نه ګڼل، تدبر نه په کې کول، تلاوت يې نه کول، سم قرأت ته يې پام نه کول، له قرآن نه مخ اړول او نورو عبثو کارونو يا ناځيزه شيانو ته توجه اړول، دا ټول شکلونه درجه په درجه د قرآن پرېښودنې په عنوان کې راتللی شي.»

د قرآن کريم د منونکو لپاره له قرآن کريم څخه د «**کتابِ مهجور**» د جوړولو طريقه هېڅ کله دا نه وي، چې د خلکو په زړونو کې د قرآن احترام او تقدس پاتې نه شي. د برکت او تقدس د سمبول په توګه خو هغوی قرآن کريم همېشه د خپلو تاخچو د زينت په توګه خوندي کړی وي. البته له دې کتاب نه يې فکري مسير اخيستل پرې ايښي وي. د خدای په کتاب کې د هغوی لپاره ذهني خواړه نه وي. دا کتاب د هغوی د حقيقي ژوندانه سرمايه نه ګرځي. قرآن د هغوی د دنياپرسته ژوند لپاره د «برکت تعويذ» خو خامخا وي، مګر د اخرت د لارښود کتاب په حيث يې د دوی په ژوند کې هېڅ مقام نه وي. دا مطلب دی د خدای له کتاب څخه د «**کتابِ مهجور**» جوړولو.

ketabton.com - The Digital Library




# آه، دا ظالم انسان!

عثمان بن عفان رضي الله عنه په ۲۴هـ کې خليفه وټاکل شو او په ۳۵هـ کې شهيد کړای شو، دې وخت کې يې عمر ۸۲ کاله و. امام مسلم له عائشې نه روايت کوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې کره پروت و او پونډۍ يې لوڅې وې. په دې وخت کې ابوبکر رض راغی، نبي کريم ص همداسې پروت و او خبرې يې وکړې. بيا عمر رض راغی. نبي کريم ص بيا هم په هماغه حالت کې پروت و او خبرې يې وکړې. بيا عثمان رض راغی. د عثمان په راتلو سره نبي کريم نيغ راکېنوست او خپلې جامې يې سمې کړې. کله چې درې واړه لاړل، نو ما ورته وويل: اې د خدای رسوله! ابوبکر راغی، خو تاسې پورته نه شوئ. عمر راغی، خو تاسې بيا هم ونه خوځېدئ. خو عثمان چې راغی، تاسې پاڅېدئ او خپلې جامې مو سمې کړې. نبي کريم ص ځواب ورکړ:

«الا استحيي من رجل تستحيي منه الملائکة» ژباړه: ايا زه له داسې سړي نه حيا ونه کړم، چې پرښتې ورنه حيا کوي.

امام ترمذي له عبدالرحمن بن خباب رض نه روايت کوي، چې زه هغه وخت په مدينه کې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خوا کې وم، چې کله يې د جيش عسره (تبوک) د چمتووالي لپاره خلک هڅول. عثمان بن عفان پورته شو او ويې ويل: اې د خدای رسوله! سل اوښان له کجاوو سره د خدای په لاره کې باسم. نبي کريم ص بيا خلک وهڅول.

ketabton.com - The Digital Library

**عثمان بن عفان بیا پاڅېده او ویې ویل: دوه سوه اوښان له کجاوو سره د الله په لاره کې. نبي کریم ص بیا خلک تشویق کړل. عثمان بن عفان دریم ځل پاڅېده او ویې ویل: اې د خدای رسوله! درې سوه اوښان له کجاوو سره د الله په لاره کې. راوي وایي، ما ولیدل، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له منبر نه راکوز شو. او په ژبه مبارکه یې دا خبره روانه وه:**

| | |
|---|---|
| **«ما علی عثمان ما عمِل بعد هذه؛ ما علی عثمان ما عمِل بعد هذه»** | ژباړه: له دې وروسته چې عثمان هر څه وکړي، له ده یې مواخذه نشته؛ له دې وروسته چې عثمان هر څه وکړي، له ده یې مواخذه نشته. |

**امام ترمذي له انس بن مالک نه روایت کوي. په حدیبیه کې چې کله د رضوان بیعت وشو. دې وخت کې عثمان بن عفان د رسول الله د سفیر په حیث مکې ته تللی و. کله چې ټول خلک بیعت شول، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: عثمان دا مهال د الله او د هغه د رسول په کار پسې تللی دی. بیا یې خپل یو لاس په بل لاس وواهه او په خپل یوه لاس یې په بل لاس د عثمان لپاره بیعت وکړ:**

| | |
|---|---|
| **«فکانت ید رسول الله صلی الله علیه وسلم لعثمان خیرا من ایدیهم لانفسهم.»** | ژباړه: نو د عثمان لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس د خلکو لپاره د هغوی له خپلو لاسونو څخه غوره و. |

**امام ترمذي له مرة بن کعب نه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو فتنو حال بیان کړ، چې له ده وروسته به راځي. دې وخت کې یو سړی تېر شو، چې له ځانه یې څادر پېچلی و. نبي کریم ص وفرمایل: هذا یومئذ علی الهدی** (دا سړی به په هغه ورځ په حق باندې وي.) **زه پورته شوم او د هغه سړي خواته ورغلم، نو ومې لیدل، چې عثمان بن عفان دی. (ترمذي) حضرت عثمان په خپل مال سره په سختو وختونو کې د اسلام دومره زیات لاسنیوی کړی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا بیا ځلې د هغه لپاره دعاوې وکړې. یو ځل یې وفرمایل:**

| | |
|---|---|
| **«اللهم انی قد رضیت عن عثمان فارضِ عنه، اللهم انی قد رضیت عن عثمان فارضِ عنه»** | ژباړه: اې الله! زه له عثمان نه راضي یم، نو ته هم ورنه راضي شه. اې الله زه له عثمان نه راضي یم، نو ته هم ورنه راضي شه. |

**یو ځل د حضرت عثمان له ایثار او قرباني نه نبي کریم ص دومره خوشاله شو، چې د دعا دغه کلمه یې ټوله ورځ په خوله جاري وه.**

**خو همدا عثمان بن عفان و، چې په خلاف یې د خلافت په وروستیو کلونو کې په ټولو اسلامي هېوادونو کې شورشونه راولاړ شوو. د دې غوغاوو په ایجاد کې ګڼ شمېر مخلص او مقدس خلک هم شریک وو. دا شورش دومره زیات شو، چې د زرګونو په شمېر بلواګر له بېلابېلو هېوادونو څخه په مدینې رانوتل. هغوی د حضرت عثمان کور محاصره کړ. کور ته**

ketabton.com - The Digital Library

**يې د اوبو لاره بنده کړه. په مسجد نبوي کې يې لمانځه ته تګ ورته ناممکن کړ. چې کله ماجرا ډېر زور ونيوه، نو دی د خپل کور بام ته وخوت او بلواګرو ته يې په وينا کې وويل:**

**«عن ثُمامةَ بنِ حزنٍ القُشَيريُّ قال شهدتُ الدارَ حين أشرف عليهم عثمانُ فقال: أنشُدكم باللهِ وبالإسلامِ هل تعلمون أنَّ رسولَ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ قدِم المدينة وليس بها ماءٌ يُستعذَبُ غيرُ بئرِ رُومةَ فقال من يشتري بئرَ رُومةَ فيجعل فيها دلوَه مع دِلاءِ المسلمين بخيرٍ له منها في الجنةِ. فاشتريتُها من صُلبِ مالي، وأنتم اليوم تمنعُوني من الشربِ منها. فقالوا اللهمَّ نعم. فقال فأنشُدُكم باللهِ والإسلامِ هل تعلمون أنَّ المسجدَ ضاق بأهلِه فقال رسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ من يشتري بقعةَ آلِ فلانٍ فيزيدُها في المسجدِ بخيرٍ له منها في الجنةِ فاشتريتُها من صُلبِ مالي، فزدتُها في المسجدِ وأنتم تمنعُوني أن أُصلِّيَ فيه ركعتَينِ. قالوا اللهمَّ نعم... قال اللهُ أكبرُ شهِدوا وربِّ الكعبةِ أني شهيدٌ، ثلاثا.» (ترمذي، نسائی، دار قطني)**

ژباړه: ثمامه بن حزن القشيري وايي، د عثمان بن عفان د محاصرې په وخت کې زه د هغه کور ته نيږدې وم. دی د خپل کور بام ته وخوت او خلکو ته يې وويل: زه تاسو ته د الله او اسلام قسم درکوم. آيا تاسې پوهېږئ، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هجرت وکړ او مدينې ته راغی او دلته يوازې (د يوه يهودي) يو کوهی، بئر رومه و چې خوږې اوبه ورنه واخيستل شي (او هغه خپل کوهي په ډېره لوړه بيه پلوره) رسول الله وفرمايل: څوک بئر رومه اخلي، چې دی هم اوبه ورنه واخلي او مسلمانان هم اوبه ورنه وڅښي. په جنت کې به له دې نه غوره ورکول شي. ما (د ٣٥ زره درهمو) په بدل کې هغه کوهي وپېره. او نن ورځ تاسې ما د هماغه کوهي له اوبو نه منع کوئ. خلکو ځواب ورکړ، خدايه، هو. بيا عثمان بن عفان وويل. زه تاسې ته قسم درکوم د الله او اسلام. آيا تاسې پوهېږئ، چې مسجد نبوي نور په تنګ راته، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې څوک به پلانی ځمکه واخلي او جومات به پراخه کړي. په جنت کې به له دې نه بهتر ورکول شي. ما له خپل مال نه هغه ځمکه وپېرله. او تاسې نن ما په هماغه جومات کې دوه رکعته لمانځه ته هم نه پرېږدئ. خلکو وويل، خدايه، هو. عثمان بن عفان وويل: الله اکبر، د کعبې په رب قسم! تاسې شاهدان اوسئ چې زه شهيد يم. (درې ځله يې وفرمايل)

په دې تولو خبرو سربېره خلکو حضرت عثمان شهيد کړ. او قاتلين او د هغوی ملګري ټول د لمانځه او روژې مسلمانان وو. حتی تر دې چې په دې ملتيا کوونکو کې ځينې داسې خلک هم وو، چې په اخلاص او بزرګۍ کې هېڅ څوک دوه زړی نه و.

ketabton.com - The Digital Library

## انسان بدلیږي

محمد بن علي بن طباطبا، چې په ابن الطقطقي مشهور دی، د دیارلسمې میلادي پېړۍ نومیالی مؤرخ دی. دی لیکي، چې عبدالملک بن مروان اموي (۸۵- ۲۳هـ) د مدینې له مشهورو فقهاوو څخه و. خلکو به ده ته «د مدینې کوتره» ویل. په دې چې دی به زیاتره وخت په جومات کې و او د قرآن کریم تلاوت به یې کاوه. د ده د پلار مروان بن الحکم له مړینې وروسته چې کله ده ته وویل شوو، چې «له نن نه وروسته ته خلیفه یې.» نو ده سمدستي قرآن کریم بند کړ او ویې ویل: **هذا فراق بيني و بينک** (همدا زما او ستا ترمنځ بېلتون شو).

د عبدالملک له خلافت نه مخکې چې کله یزید بن معاویه د مدینې له خلکو سره جګړې او په کعبه باندې د برید کولو لپاره پوځ لېږد کړ، نو د عبدالملک ډېره زیاته خوا بده شوه. ده وویل، «دریغه چې اسمان رامات شي او په ځمکه راوغورځي.» خو کله چې پخپله دی خلیفه شو، نو په خپل مخالف عبدالله بن زبیر باندې د غلبې لپاره یې همدغه کار په ډېر شدید شکل سره ترسره کړ.

ده د دې کار لپاره حجاج بن یوسف وګماره. هغه مکه محاصره کړه او په کعبه یې له منجنیقو تیږې وار کړې. سعید بن المسیب، د عبدالملک استاد و. یوه ورځ عبدالملک سعید بن المسیب ته وویل: «سعیده! اوس زما دا حال شوی دی، چې زه کوم نېک کار کوم، نو زړه مې ورسره نه خوشالېږي. چې کله کومه بدي کوم، نو غم یې نه راځي. حال دا چې پخوا داسې نه وه. سعید بن مسیب ځواب ورکړ: د دې وجه دا ده، چې اوس ستا زړه په بشپړ ډول مړ شوی دی.»

***

## ډېری باورونه د نیمګړو معلوماتو پایله وي

**د مېدې او تورې تیږې له ترکیب نه د سترګو هغه پوډر جوړېږي، چې خاکستري رنګ لري. خو د دې پوډرو کوچني چینجي ته چې پخپله هم د پوډرو د ذرو برابر وي او یوازې په خوردبین لیدل کېدی شي، دغه پوډر د سپینو او تورو «خښتو» یوه لویه ډېری ښکاري. د ده د مشاهدې په معیار کې خاکستري پوډر هېڅ وجود نه لري.**

**دغه ساده مثال موږ ته راښیي، چې انساني قضاوتونه هم څومره ناسم کېدلی شي. حقیقت دا دی، چې د قضاوت کولو په وخت کې باید له ډېر زیات احتیاط نه کار واخلو. ډېرکله داسې کېږي، چې انسان په خپل ذهن کې یوه نظریه جوړه کړې وي او هماغه ورته سمه ښکاري. حال دا چې دغه نظریه مازې د نیمګړو معلوماتو نتیجه وي او د ده له خپل محدود ذهن نه اخوا نور هېڅ حقیقت نه لري.**

ketabton.com - The Digital Library



# د مذهبي فکر ساينسي سپيناوی

د تاريخ په هر دور کې ښځې، د سړو ماتحتې پاتې شوې دي. تر دې چې نن ورځ هم د غرب په پرمختللو هېوادونو کې دا وضعيت په بشپړ ډول موجود دی. د ښځو د ازادۍ د غورځنګ غربي علمبردارانو هم تر اوسه پورې په خولو کې دا خبره تاووله، چې دا وېش کوم فطري وېش نه دی، بلکې ټولنيزو شرايطو (Social Conditioning) په مصنوعي ډول دغه فرق ايجاد کړی دی. خو په وروستيو کې چې کومې څېړنې وشوې، هغو وښودله، چې دا فرضيه ناسمه ده.

د امريکا پروفيسور ستيفن ګولډ برګ يو کتاب خپور کړی دی، چې نوم يې «د نارينواکۍ حتميت» دی. ليکوال وايي، چې په ټولنه کې د ښځې او نارينه ترمنځ فرق په حقيقت کې د کوم ټولنيز فشار له امله نه دی، بلکې په دواړو جنسونو کې بنيادي فطري بېلوالی د دې شي سبب شوی دی. د دې کتاب له خپرېدو وروسته ياد پروفيسور ته د امريکا د افراطي ښځو له لوري ډېر سخت نومونه وکارول شول مثلاً «ظالم خنزير»، «ساديست[1] انسان» او داسې نور.

د کتاب له خپرېدو وروسته چې کله له پروفيسور ګولډبرګ سره د «ډېلي اکسپريس» يوه خبريال ملاقات وکړ، نو ګولډبرګ په خندا ورته وويل، «د ښځو د برابرۍ

[1] ساديزم، کونټ دي سادي (۱۸۱۴- ۱۷۴۰) ته منسوب دی. دې نه مراد يو ډول جنسي انحراف دی، چې په دې انحراف باندې اخته فرد له دې خوند اخلي، چې خپلې معشوقې ته جسماني ځور ورسوي. د «ساديست» معنا دا ده، چې داسې سړی چې د ښځو پر وړاندې ظالم وي.

ketabton.com - The Digital Library

بیرغ جګوونکې ښځې له ما کرکه کوي. خو زه په دې یقین لرم، چې په ټولو بشري ټولنو کې د سړو عمومي غلبه (Male Dominion) تنها د ټولنیزو حالاتو له امله نه شي کېدی.»

د دې فرق ډېره حقیقت‌پلوه توجیه خو دا ده، چې یاد فرق د نارینه هورمونونو (Male Hormone) یوه پایله وګڼل شي، هورمونونه هغه وخت په یوه ژوندي ارګانیزم غلبه مومي، چې لا هم د مور په ګېډه کې وي. همدا سبب دی، چې واړه هلکان همېشه له وړو نجونو څخه ډېر تېری کوونکي وي او دا فرق له هغې ورځې لا ښکاره شي، چې ماشوم تر اوسه پورې د ټولنیزو حالاتو تر اثر لاندې هم نه وي راغلی.

د ښځو لپاره د مساوات غوښتونکې طبقې دلیل له سوچه علمي پلوه ډېر مضبوط نه دی. که دا خبره سمه وای، چې د نارینه غلبه د ټولنیزو حالاتو له کبله ده، نه د پیدایشي ځانګړنو له امله، نو یقیني خبره ده، چې یو وخت خو به د دنیا په کوم کونج کې ارومرو داسې ټولنه رامنځته شوې وه، چې ښځې به په کې غالبې وې. حال دا چې په ټول معلوم تاریخ کې هېڅ داسې مثال نه تر سترګو کېږي. تر دې چې په اشتراکي ټولنه کې هم چې د جنسي مساواتو تر ټولو لوی علم‌بردار دی، په دې ډول نه ده. د روسیې په وزارتي کابینه کې ٦٢ زورور وزیران شامل دي. خو یوه غړې یې هم ښځه نه ده.

بشرپوهې ډاکټر مارګریټ میډ، چې پخپله هم د ښځو لپاره د مساوات غوښتونکې غورځنګ پورې تعلق لري، ټول ژوند د بېلا بېلو بشري ټولنو مطالعه کړې ده. خو هغه لیکي، چې «داسې ټولې ادعاوې چې په هغو کې په زور او شور سره د داسې ټولنو خبره شوې ده، چې ښځو ته په کې غلبه حاصله وه، بالکل لغو او بې بنیاده خبره ده. د دغه راز عقیدې لپاره موږ هېڅ کوم ثبوت په لاس کې نه لرو. په هر دور کې همدا نارینه وو، چې د عمومي چارو مشران پاتې شوي دي. او د کور دننه هم لوړ اختیار همېشه د سړو په لاس کې پاتې شوی دی.»

پروفیسر ګولډبرګ وایي، چې د دې معنا دا نه ده، چې سړی، تر ښځو غوره (better) دی. د دې معنا یوازې دا ده، چې سړی، له ښځو نه مختلف (different) دی. د سړي ذهن چې په څه ډول کار کوي، د ښځو ذهن له هغه نه په بل ډول کار کوي. دا فرق د موړکانو او داسې نورو د ښځینه او نارینه جنسونو ترمنځ په ډېر څرګند ډول تجربه شوی دی. البته ځینې ښځې استثنا کېدی شي، خو د شمېر له پلوه ډېرې کمې وي.

لنډه دا چې سړی او ښځه له یو بل نه مختلف دي، د مور له رحم نه نیولې د فکر کولو تر وروستیا پورې. دا فرق د دواړو په بیولوژیکي ځانګوالي کې له فرق څخه پیدا کېږي، نه د کومو ټولنیزو حالاتو په پایله کې.

***

ketabton.com - The Digital Library

## د مذهب کیفیت

له یوه لوستي شخص سره مې د مذهب په هکله خبرې روانې وې. د خبرو په منځ کې هغه وویل:

HUMAN QUALITIES ARE MORE IMPORTANT THAN THE RELIGIOUS CUSTOMS

(بشري ځانګړنې تر مذهبي رسم او رواج نه ډېرې ارزښت مومي.) دا جمله هغه ذهنیت په ډېره ښه بڼه راته څرګندوي، چې له امله يې د نن ورځې د لوستې طبقې په سترګو کې مذهب بې ارزښته شی ګرځېدلی دی. دا خلک مذهب د داسې دودونو او کړنو مجموعه ګڼي، چې د انسان له اصلي ژوند سره يې هېڅ تعلق نه وي. دوی چې کله ګوري، چې په ربښتیني ژوند کې چې د بریا لپاره کومې ځانګړنې پکار دي، هغه له مذهب څخه نه حاصلېږي، نو هغوی په دې نه پوهېږي، چې د داسې رسمیاتو یو اضافي بوج دې بیا ولې په خپلو اوږو وګرځوي؟

د مذهب دغه تصور د اصلي مذهب له مطالعې څخه نه دی رغېدلی، بلکې مذهبي خلکو ته په کتو جوړ شوی دی. په کې شک نشته، چې په اوسنۍ زمانه کې مذهبي طبقې همدا نمونه وړاندې کړې ده او ته به وایې، چې مذهب د همدغسې ځینو بې معنا رسمي اعمالو د ترسره کولو نوم دی. حال دا چې مذهب د خپل اصلي حقیقت له مخې د یوه ژوندي ځواک نوم دی، چې د انسان په ټول ژوند کې هلچل پیدا کوي.

---

## د شاعر اعتراف

طرماح بن حکیم (مړ ۱۰۰هـ) او کمیت بن زید اسدي دواړه هممهاله شاعران وو. د دواړو توکم، وطن او مذهب بالکل سره بېل، بېل وو. طرماح قحطاني، شامي او خارجي و. د دې بالعکس کمیت بیا عدناني، کوفي او شیعه و او دا خو معلومه ده، چې خوارج د حضرت علي دښمنان وو. د خوارجو شپږ لويې فرقې دي: ازارقه، نجدات، صفریه، عجارده، اباضیه، ثعالبه. دا ټول له حضرت عثمان او حضرت علي نه په براءت او بېزارۍ کې سره یوه خوله دي او خپله دغه عقیده تر ټولو عبادتونو افضل کار ګڼي. د طرماح تعلق په ازارقه فرقې پورې و او دا فرقه دومره متشدده وه، چې حضرت علي ته به یې نعوذ بالله کافر ویل او د هغه قاتل ابن ملجم به یې په حق باله. بل لوري ته کمیت شیعه و، نو هغه به بیا د حضرت علي په تعریف کې دومره غلو کوله، چې له بشریت نه هم په لوړ مقام ورته قایل و.

خو په دې شدید نظریاتي اختلاف سربېره دواړه د یو بل ډېر کلک ملګري هم وو. کمیت به ویل، «موږ دواړه له عوامو څخه په کینه کولو کې سره یوه خوله یو.» یو ځل دواړه شاعران د مخلد بن یزید مهلبي کره ورغلل، هغه دواړه په ډېر درناوي کېنول او د اشعارو د ویلو یې ورته وویل. طرماح په ناسته د شعر په ویلو پیل وکړ. مخلد ورته وویل،

ketabton.com - The Digital Library

**مور، ته يې په ولاړه ووايه. طرماح وويل، هېڅ کله هم نه. د شاعري درناوی دا نه دی، چې زه ودرېږم او شاعري ما ذليل کړي. مخلد ورته غوسه شو. هغه وويل، کميت ته ځای پرېږده. اوس کميت راوړاندې شو او په ولاړه يې په شعر ويلو پيل وکړ. مخلد ډېر خوشاله شو. او هغه ته يې پنځوس زره درهم په انعام کې ورکړل. کله چې دواړه دباندې راووتل، نو کميت نيم درهم طرماح ته ورکړل او ورته ويې ويل: «اې ابو ضبيبه! په تاکې خود داري ده او زه فرصت طلبی يم، له وخت سره سم چلېږم.»**

## ليکوالي ونه ژغوره

عبدالحميد بن يحی (مړ ۱۳۲هـ) په شام کې په غيرعربي نسل کې نړی ته راغی. خو د خپل غيرمعمولي استعداد له برکته د عربي انشا او ليکوالي په برخه کې د امام درجې ته ورسېده. دی د بني اميه د وروستي خليفه مروان سکرتر و. کله چې عباسيانو مروان په مصر کې وواژه، نو ده له هغه ځايه بحرين ته مخه کړه او له خپل دوست ابن المقفع سره يې واړول. عباسي سپاهيان د ده په لټون کې يوه ورځ ناڅاپه د ده تر ځايه ور ورسېدل. هغوی وپوښتل، چې په تاسې کې عبدالحميد څوک دی.» له هغوی نه هر يوه د خپل ملګري د ژغورلو لپاره وويل، چې زه عبدالحميد يم. سپاهيانو ابن مقفع ونيوه او غوښتل يې چې سر ورنه وشيندي. په همدې وخت کې عبدالحميد چيغه کړه، ودرېږئ، له موږ هر يو ځينې نښې نښانې لرو. نو په تاسې کې يو څو تنه دلته په موږ باندې د پام کولو لپاره پاتې شئ او يو څو تنه خپلو افسرانو ته ورشئ او د مطلوب شخص نښه ورنه وپوښتئ. سپاهيانو همداسې وکړل او له هغه وروسته يې عبدالحميد وپېژانده او ويې واژه.

د عبدالحميد د ليک طرز دومره کمالي و، چې په لوستونکي به يې جادويي اغېز پرېښووه. ويل کېږي، چې د امويانو او عباسيانو د نښتو په زمانه کې ده د عباسي غورځنګ مشر ابومسلم خراساني ته يو خط ولېږه. دا خط د مروان له لوري ليکل شوی و. کله چې دا خط ور ورسېده، نو ابومسلم له دې وېرې دا خط ونه لوست، چې داسې نه د بنو اميه په حق کې نرم او د مروان ملاتړی شي. ابومسلم ليک له لوستو پرته اور ته وغورځاوه. او بيا يې په يوه پاڼه کې د هغه په ځواب کې مروان ته دا شعر واستوه:

**محـــا الســـــيف اســــطار البلاغـــة وانتحـــى**
**عليـــک ليـــوث الغـــاب مـــن کـــل جانـــب**

ژباړه: د بلاغت کرښې به توري پاکې کړي او د ځنګل زمري به له هر لوري درباندې يرغل دروړي.

abton.com - The Digital Library



# د خدای په دې ځمکه څه او څه تېر شوي؟

حضرت شعیب د حضرت ابراهیم علیه السلام له نسل څخه و. د ده شجره داسې ده:

**شعیب بن میکیل بن یشجر بن مدین بن ابراهیم**

حضرت شعیب مدین ته نبي استول شوی و، دا ښار د سور سمندرگي په غاړه اباد و.

حضرت شعیب علیه السلام په فصاحت کمال کې درلود، له همدې امله ده ته «خطیب الانبیاء» هم ویل کېږي. حضرت شعیب په ډېر غوره اسلوب او لوړ استدلال سره د خپل قوم مخې ته د حق پیغام کېښود. په ځواب کې یې چې مدعو قوم څه وکړل، د هغه یوه برخه په قرآن کریم کې په دې ټکو کې راغلې ده:

«هغوی وویل: اې شعیبه! ستا په زیاترو خبرو موږ نه پوهېږو او په خپل منځ کې دې کمزوری وینو. که ستا دغه (کافر) خپلوان نه وای، نو په کاڼو به مو ویشتی وې او پر موږ خو څه عزتمن نه یې. (شعیب) وویل: اې قومه! ایا زما خپلوان پر تاسې الله نه زیات درانه دي؟ او هغه مو تر شټه شاته غورځولی، بې شکه زما رب له هغه څه راچاپېر دی چې تاسو یې کوئ.»

یوه بنده چې په خپل قوم کې دنیوي بنیاد جوړ کړی وي، نو خلک د هغه په خلاف له لاس پورته کولو څخه وېرېږي. خو د چا په شاوخوا کې چې دغه ظاهري دنیوي بنیادونه نه وي، د هغه په خلاف له اقدام کولو نه باید لا ډېره وېره وشي. ځکه ممکنه ده، چې له دغسې بنده سره خدای د مرستې لپاره ولاړ وي. او د چا په مرسته کې چې خدای ولاړ وي، هغه ته ځوک کړاو رسولی شي او که یې وهم رسوي، نو ځومره سخته سزا به یې تېروي.

ketabton.com - The Digital Library

په پخوا زمانه کې چې په دنیا کې قبایلي نظام و، هر سړی به د خپلې قبیلې په پناه کې و. د قبیلې یو تن چې څوک ووژني، نو په ټوله قبیله یې دا لازمېږي، چې د هغه غچ واخلي. همدا وجه ده، چې په مکه کې د اسلام دښمنانو، غلامانو ته ډېر سخت عذابونه ورکړل، تر دې چې ویې وژل. خو هغه خلک چې په کومه قبیله پورې تړلي وو، په هغو یې د دغسې ظلم زړه نه شوی کولی.

د ابن اسحاق له قوله راغلي دي، چې عمر بن خطاب چې کله اسلام نه و راوړی، نو یوه ورځ له توري سره په غوسه کې روان و، په لاره کې نعیم بن عبدالله ورسره مخ شو. هغه وویل، **من ترید یا عمر** (اې عمره! د چا په لوري دې مخه نیولې ده؟) عمر ورته وویل، روان یم، چې نور د محمد کیسه ورټوله کړم. نعیم ځواب ورکړ:

«**والله لقد غرتک یا عمر، اتری بنی عبدمناف تارکیک تمشی علی الارض وقد قتلت محمداً**» ژباړه: په خدای قسم عمره! خپل نفس دې غولولی یې. که تا محمد وواژه، نو ایا عبدمناف به دې په ځمکه روغ پرېږدي؟» په دې خبره عمر له خپلې ارادې واوښت.

د حضرت شعیب علیه السلام قوم هم خپل پیغمبر ته همدا خبره کړې وه، چې «که موږ سره دا وېره نه وای، چې ستا قبیله به ستا د غچ لپاره راولاړه شي، نو موږ به دې کار درختم کړی و.» حضرت شعیب ځواب ورکړ، چې تاسې سره د قبیلې وېره شته خو د خدای وېره نه لرئ. که تاسې هڅه وکړه، چې ما ناحق ووژنئ، نو خدای به زما تر شا ودرېږي او له تاسې به دومره لوی انتقام واخلي، چې تاسې به یې تصور هم نه شئ کړای.

---

## د مسیح له ژبې

**«د آسمان پادشاهي د هغه ستر جال په څېر ده، چې په سیند کې وغورځول شو. او هغه هر راز ماهیان په کې راغونډ کړل. او چې کله ډک شو، نو ساحل ته یې راوایست. بیا ورته کېنوست او ښه ماهیان خو یې په لوښو کې ټول کړل او هغه چې خراب و، هغه یې وغورځول. د دنیا په پای کې به همداسې وشي. پرښتې به راووځي او شریر انسانان به له ربښتینو وګړو بېل کړي. او شریر انسانان به د اور بټۍ ته وغورځوي، چې هلته به یوازې ژړا او غاښونه چیچل وي.» متی ۱۳: ۴۷ – ۵۰**

ketabton.com - The Digital Library



# فکري قالب

هر دور یو فکري قالب لري. انسان په همدې فکري قالب کې فکر کوي او د همدې له مخې شیان د ځان لپاره د پوهاوي وړ ګرځوي. د روسیې د کمونیست ګوند په شلم کانګرس (۱۹۵٦) کې خروشچیف چې د اشتراکي نړۍ د کومو «جهنمي حالاتو» له مخه پرده واړوله، له هغه وروسته امریکایي کمونیست هوورډ فاسټ له کمونیزم نه خپله لاره بېله کړه. ده په خپله وینا کې ویلي و چې «زه پخپل فکري قالب کمونیست شوی وم.» نوموړی د مارکس د نظریاتي تشریح له امله نه و کمونیست شوی. دی یو انسان‌دوست سړی و او د همدغه ذهنیت له مخې کمونیست شوی و، چې همدا د ظلم او لوټمارۍ د ختمولو یوه طریقه ده. خو کله چې ور معلومه شوه، چې د کاریګرو په دیکتاتوري کې تر پخوا هم ډېر په شدت سره ټولنیز ظلم ادامه لري، نو ده له کمونیزم سره مخه ښه وکړه. هوورډ فاست ته کمونیزم په خپل فکري قالب کې د منلو و، خو کله یې چې له خپل فکري قالب سره برابر ونه موندہ، نو نور ورته د منلو نه و.

په پخوا زمانه کې عموما دوه ډوله فکري قالبونه په دنیا کې رواج و. یو شرکي، بل فلسفي. شرکي فکري قالب په دې فرضیې ولاړ و، چې په دنیا کې هر څرګند شی په خپل ځان کې د خدای یو «اوتار» لري او هر شی د خدایي ذات یوه توسیع یا زیاتونه ده. بل لوري ته فلسفي فکري قالب په ذهني قیاساتو ولاړ و. په یونان کې دې فلسفې وده وکړه او قیاسي منطق (Syllogism) یې رامنځته کړ. په تېرو زمانو کې چې د پیغمبرانو په دین کې کوم انحرافونه پیدا شول، د هغو تر شا د همدغو فکري قالبونو لاس وو. یو مثال یې اوسنی مسیحیت دی. حضرت مسیح هماغه ساده او فطري دین راوړی و، چې په قرآن کریم کې یې موږ وینو. خو د حضرت مسیح پیروان د وخت له فکري قالب نه اغېزمن شول

ketabton.com - The Digital Library

او له مسیحیت نه یې د شرک او فلسفې یوه ګډوله جوړه کړه. د «ابن الله» تصور له شرکي فکر څخه د اغېزمنېدو له کبله مسیحیت ته لاره وکړه. او د کفارې عقیدې ته لرغوني فلسفي تفکر ځمکه برابره کړه.

په اوومه پېړۍ کې د اسلام له ستر انقلاب سربېره هم د شرکي او فلسفي فکري قالبونو ټغر له دنیا نه ټول نه شو. له دې امله اسلام هم له لنډې ابتدايي وقفې وروسته بیا بیا ځلې د مضاهاة (توبه ۳۰) په لومه کې لوېدلی دی. د قرآن کریم په بڼه د اسلام الهي متن خو په بشپړ ډول خوندي و، خو مسلمانو ملتونو وخت په وخت عملي اسلام ته د رواجي فکرونو له نقشې سره سم ادلون بدلون ورکړی دی. له ژوندیو او مړو بزرګانو څخه د عقیدت مرکز جوړول، چې په اسلام کې په راز، راز شکلونو سره رواج شو، له شرکي فکر څخه د اغېزمنېدو مثال دی. دغه راز فقه او علمِ کلام له قیاسي منطق څخه د متاثره کېدو مثال دی. په اوسني عصر کې اسلام د همدغه نوعیت له دریم اغېز سره لاس و ګرېوان دی او هغه د مسلمانانو «نظامي فکرطرز» دی. په نولسمه پېړۍ کې چې صنعتي انقلاب کوم حالات وزېږول، د هغو په پایله کې په سیاسي او اقتصادي اصطلاحاتو کې فکر کول رواج شول، نو مسلمانانو هلې ځلې پیل کړې، چې اسلام هم د سیاسي او اقتصادي نظامونو په شکلونو کې وړاندې کړي او خبره تر دې ځایه ورسېده، چې هغه اسلام چې په حقیقت کې د اخرت جوړونې موضوع وه، د دنیا رغونې په یوه سوژه بدل شو.

د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمه کې لومړی ځل دا واقعه پېښه شوه، چې د دنیا رواجي فکري قالب او د قرآن فکري قالب دواړه سره غاړه په غاړه شول. د قرآن فکري قالب په برهانیاتو ولاړ دی او د حقایقو او واقعاتو په بنیاد رغېدلی دی. په اوسنی زمانه کې ساینسي فکرطرز د همدې فکري قالب علمي شکل دی. د فکر دې طرز په تاریخ کې لومړی ځل د انساني فکر او قرآني فکر دوه‌ګوني توب ته د پای ټکی کېښود. د انسان فکري ځمکه هماغه برهاني ځمکه ده، چې د قرآن کریم ځمکه ده. نن ورځ د دې لپاره چې اسلام د انسان لپاره د فهم وړ شي، دې ته ضرورت نشته، چې کوم فکري قالب ته د مرستې لاسونه لپه شي. نن ورځ موږ یوازې باید دومره کړو، چې قرآن په خپله برهاني ژبه (نساء: ۱۷۴) کې وړاندې کړو. همدا د دې لپاره بس دی، چې اسلام د خلکو په نزد د منلو وړ وګرځي. له یوه پروفیسور سره لیکوال د اسلام په هکله بحث درلود. د لیکوال له خولې ووتل:

ISLAM MEANS REALISM

د اسلام معنا ریالیزم دی. نوموړی پروفیسور د اسلام له دې تشریح نه ډېر زیات متاثر شو. هغه وویل، که اسلام له واقعیتونو سره د مطابقت بل نوم وي، نو څوک به وي، چې له دې دین نه انکار وکړي؟» اسلام بې له دې څه نه دی، چې بنده واقعیت ته غاړه کېږدي. د فکر معامله وي یا د عمل، انسان باید هماغه کار وکړي، چې له بیروني غوښتنو سره همغږی وي.

ketabton.com - The Digital Library

**أَفَغَيْرَ دِينِ اللّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ**. (**آل عمران: ٨٣**)

ژباړه: ایا د الله له دینه پرته (بل دین) لټوي؟ حال دا چې هر هغه څه چې په اسمانو او ځمکه کی دي، په خوښه او ناخوښه یې هغه ته غاړه ایښي او هغه ته ورګرځول کیږي.

ساینس د دغسې یوه «دین» لپاره بهترینه ذهني زمینه برابروي. یانې قطعي علوم (EXACT SCIENCES) له خپل فطرت سره سم د فکر قطعیت (EXACT THINKING) یا د فکر صحت (PRECISED THINKING) ته لاره جوړوي. د دغه ډول ذهن لپاره اسلام داسې د فهم وړ وي، لکه د یوه قانونپاله انسان لپاره یوه قانوني نکته.

ویل کېږي، چې یو ځل په یوه مجلس کې د خدای په وجود بحث روان و. د مسئلې حل نه راوته. په کلي کې یو بزرګ سړی و. کله چې بحث ډېر اوږد شو، نو ځینې خلک هغه بزرګ ته ورغلل او ورته وېې ویل، چې تاسې زموږ ناستې ته راشئ او له موږ سره مرسته وکړئ. نوموړی له خپلې حجرې راووت. خو د خلکو په وړاندې یې ډېره اوږده وینا ونه وکړه. دی چې هلته ورسېد، نو دا آیت یې ولوست:

**أَفِي اللّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ**

(آیا په الله کې شک کوئ چې د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی دی؟)

او بیا له هغه ځایه لاړ. بحث ختم شو. خلکو د خدای وجود ته غاړه کېښوده.

پخوا وختونو کې چې خلک په کوم څه مطمئن وو، هغه د دې آیت ادبي زور یا قیاسي استدلال و. یانې دا چې کله چې یو کاینات شته، نو د دې کایناتو باید یو پیدا کوونکی هم وي. خو د نن ورځې د انسان لپاره په دې آیت کې یو ډېر زبردست واقعاتي استدلال پروت دی. د «فاطر» معنا په عربي ژبه کې، څیروونکی دی. د نن ورځې انسان چې له کومې ځمکې او اسمان سره بلد دی، هغه یو خوربدونکی کاینات دی. په نورو ټکو کې ویلای شو، چې یو داسې کاینات دی، چې په ابتدا کې غونج و. بیا انفجار ورکول شو. دغه وخت د کایناتو ټول اجزاء (اټومونه) په ډېر لوړ ځواک دننه لوري ته جذب شوي وو. د مادې د دغې واحدې مجموعې (سوپر اټوم) انفجار کول او په بیروني فضا کې خورېدل د یوه خارجي ځواک له لاسوهنې پرته نه شي ترسره کېدی. همدا ده، چې ویل کېږي، چې پنځلس بیلیونه کاله دمخه په دې سوپر اټوم کې د انرژي د تخلیې (Energy release) یوه پېښه رامنځته شوه او له هغه وروسته کاینات څلور خواوو ته په خورېدو شروع وکړه. د پرون ورځې انسان چې کوم خدای د قیاس له مخې پېژانده، د نن ورځې د انسان لپاره دا ممکنه شوې ده، چې هغه خدای د حقایقو او واقعیتونو په رڼا کې وپېژني.

ketabton.com - The Digital Library

په عربو کې د اسلام د سرلوړاوي لپاره چې کومه تګلاره وکارول شوه، په قرآن کريم کې د هغې لپاره د ځمکې د څنډو کمولو (**رعد ۴۱**) تعبير کارول شوی دی. ياني له مقابل لوري سره په يوه وار د جنګېدو په ځای ورو په ورو د هغه په خاوره ورننوتل. دا خبره په پخوا زمانه کې تر ډېره په اخلاقي بستر کې د پوهېدو وړ وه. خو نن ورځ د يوه پاخه حقيقت له پلوه هم د فهم وړ ګرځېدلې ده. ځکه د نن ورځې انسان چې په کومو لويو، لويو طرحو تجربې ترسره کوي، هغه بې له دې په بله هېڅ لاره سرته نه شي رسېدی.

والټر شيرا امريکايي ستورمزلی دی. نوموړي په درې مصنوعي سپوږمکيو کې فضا ته سفر کړی دی. په ستمبر ۱۹۷۲ کې والټر شيرا د نړيوالې دورې له مخې هندوستان ته تللی و. په يوه وينا کې ده د امريکا د فضايي مشن په تړاو وويل:

«هغه ټکنالوژي چې په اصل کې يې موږ ته فضا ته د داخلېدو فرصت راکړ، هغه ګام په ګام د مخکې تلو طرحه وه. موږ په يوه وخت کې يوازې يو کار وکړ. موږ واړه، واړه ګامونه پورته کړل. داسې مو نه دي کړي، چې په يوه وار لوی ګام پورته کړو. شک نشته چې لوی ګام واخيستل شو، خو تر ټولو په پای کې.»

اسلام د تدريجي تګلارې لارښوونه کړې وه، خو د شاعري او تورې د زمانې انسان په دې تګلاره باندې سم نه و پوه شوی. د ساينس په زمانه کې دغه ډول تګلاره يو داسې تکنيکي ضرورت ګرځېدلی دی، چې بې له دې هېڅ ګټور کار امکان نه لري. د نن ورځې ساينسي انسان لپاره د اسلام تګلاره، د تېر دور د انسان په پرتله ډېره د پوهاوي وړ ګرځېدلې ده.

د ۱۹۶۵ خبره ده. په لکنو کې مې له يوه صاحب سره وليدل. هغه په فلسفه کې ليسانس کړی و. او په برټرنډ رسل يې تحقيق کړی و. دې خبرې ته اړتيا نشته، چې نوموړی پوره ملحد شوی و. يوه ورځ يې د خبرو په منځ کې وويل:

د خدای د ثابتولو لپاره له تاسې سره د استدلال معيار څه دی؟

زما له خولې ووتل: «هماغه معيار، چې تاسې پرې يو شی ثابتوئ.» بيا يوه خبره هغه وکړه. يوه ما وکړه. او له هغه وروسته خبرې ختمې شوې. د دې وجه د مخاطب ساينټيفک ذهن و. هغه پوهېده، چې ساينس چې کومه دنيا کشف کړې ده، هغه دومره پېچلې ده، چې د هېڅ شي په اړه هم نېغه په نېغه دليل نه شي ويل کېدی. له موږ سره له غيرمستقيم استدلال، يا په بله ژبه، له استنباطي استدلال پرته بله هېڅ چاره نشته او د خدای د وجود په ثابتولو کې عقلي خنډونه يوازې تر هغه وخته دي، چې په مستقيم استدلال ټينګار وشي. استنباطي استدلال چې روا استدلال ومنل شي، له هغه وروسته د خدای وجود ثابتول همدومره يقيني کېږي، څومره چې د يوه معلوم شي د وجود ثابتول.

ketabton.com - The Digital Library

له دې څو مثالونو یوه اندازه لګولی شو، چې د اوسنۍ زماني ذهني قالب د ابتدایي ځمکې تر حده څومره له اسلام سره یوه خوله شوی دی. د اسلام پیغام د نن ورځې د انسان لپاره له ټولو معلومو زمانو څخه ډېر د منلو وړ ګرځېدلی دی. نن ورځ اړتیا یوازې دومره ده، چې اسلام له ټولو انساني زیاتونو بېل کړو او په خپل سوچه حالت کې یې د خلکو مخې ته کېږدو. له هغه وروسته هېڅ شی د دې پېښې د منځته راتلو مخه نه شي نیولی، چې «هېڅ خېمه یا کور به پاتې نه شي، چې اسلام دې نه وي ور داخل شوی» او هېڅ سینه به داسې نه وي، چې د اسلام فطري اواز خپل ځای په کې نه وي جوړ کړی.

***

## په دې کې ستاسې لپاره سبق دی

هنري هراس (۱۹۵٦- ۱۸۸۹) اسپانوی مسیحي و. دی په ۳۴ کلنۍ کې په ۱۸ نومبر ۱۹۲۲ کې د بمبۍ په ساحل کې کوز شو. نوموړی هندوستاني خاورې ډېر زیات اغېزمن کړ او هوډ یې وکړ، چې نور ژوند به په همدې وطن کې کوي.

فادر هراس2 څو ورځې وروسته د سېنټ زیویرس پوهنتون له رئیس سره ولیدل. نوموړی یو مؤرخ و، نو هغه ورنه وپوښتل، چې «تاسې به کوم تاریخ تدریسوئ؟» فادر هراس سمدستي ځواب ورکړ، «هندوستاني تاریخ.» د رئیس بله پوښتنه دا وه، چې «د هندوستاني تاریخ په اړه ستاسې مطالعه څومره ده؟» ده ځواب ورکړ، «هېڅ.» رئیس ورنه په حیرانتیا وپوښتل، «نو بیا به تاسې هندوستاني تاریخ څنګه تدریسوئ؟» د فادر هراس ځواب دا و:

I SHALL STUDY IT

(زه به هندوستاني تاریخ مطالعه کړم، خپل ځان به اماده کړم او بیا به یې تدریس کړم.)



فادر هراس د هندوستاني تاریخ په مطالعه کې دومره خواري وکړه، چې نوموړی د جادونات سرکار او ډاکټر سریندر نات سین د درجې مؤرخ شو. نن ورځ په بمبۍ کې د ده په نوم د تاریخي مطالعاتو یو لوی مرکز دی، چې نوم یې دی: **هراس انسټي ټیوټ**.

---

[2] (Fr. Henry Heras)؛ فادر (Father) د کلیسا یوه مذهبي رتبه: ژ

ketabton.com - The Digital Library

# د ارتقاء افسانه

د ارتقا د نظريې پلويانو ډېر زيات «لرغوني انسانان» کشف کړي دي. مثلاً پيلټډاؤن انسان، نياندرتال انسان، پيکنګ انسان، جاوا انسان او داسې نور. د لرغوني انسان دا ټولې بڼې د هغو فوسيلونو په بنياد ټاکل شوې دي، چې د ځمکې له کيندلو لاسته راغلي دي. د ارتقاء نظريه د ژوند د بېلا بېلو ډولونو لپاره چې کومه تګلاره فرضوي، د هغې له مخې منځنۍ نوعې (Intermediate Species) هم بايد وجود ولري. خو داسې هېڅ نوعه تر اوسه پورې هم د زنځير د ورکې کړۍ په حيث لادرکه ده. ډاروين منلې وه، چې د منځنۍ نوعې بېلګې موږ په لاس کې نه لرو. خو له ډاروين وروسته د لرغونو فوسيلونو په اساس ګڼ شمېر نادرې او ناآشنا انساني بڼې ټاکل شوې دي او تر شا يې انګېرنه دا وه، چې دا د انساني سلسلې لرغونې تکاملي کړۍ دي.

له هغو نه يوه نياندرتل انسان دی، چې د جرمني نياندر نومې درې ته منسوب دی. دغه ډول هډوکي او سکلېټونه له ۱۸۵٦ څخه تر ۱۹۰۸ پورې په اسيا، اروپا، شمالي افريقا کې شاوخوا په پنځوسو سيمو کې وموندل شول. پروفيسور بول (Marcellin Boule) چې دغه ټوټې مشاهده کړې او کوم تعبير يې ورته ورکړ، نو همدغه نوعه د ابتدايي انساني سلسلې د يوې کړۍ په حيث ومنل شوه، ياني د ورکو کړيو يوه کړۍ معلومه شوه.

د نياندرتال انسان انځورونه په کتابونو کې خپاره شول، تر دې چې مجسمې يې هم وتوږل شوې. خو وروسته د بيولوژي پوهانو څېړنو وښودله، چې د پروفيسور بول په ارزونې کې ګڼې مهمې تېروتنې وې. په ۱۹۵۵ کې ولیم استرابس (جانسن هاکمپنس يونيورستي) او اې جې ای کيو (لندن) د نياندرتال په سکلېټ له سره څېړنه وکړه او د هغې بشپړ راپور يې کواټرلي ريويو مجله کې خپور کړ.

څېړونکي ليکي، چې د نياندرتال سکلېټ چې د يوه ۴۰-۵۰ کلن سړي ده، د روماتيزم له ناروغۍ نه وروست شوی دی. دې ناروغۍ د سړي لاندې ژامه او د هغه غاړه او ټول سکلېټ اغېزمن کړي دي. د سړي د سر لاندې لور ته راټيټوالی، چې پروفيسور بول ورته متوجه شوی و، لږ تر لږه تر يو څه بريده د همدې ناروغۍ له امله و. په حقيقت کې د دې سړي سکلېټ هماغسې و، لکه د نن ورځې د يوه اوسط فرانسوي سړي سکلېټ. تر دې چې نويو څېړنو دا هم ښودلې ده، چې د نياندرتال د مغزو اندازه هم شاوخوا هماغومره وه، څومره چې د يوه اوسط اروپايي سړي ماغزه وي. که د نياندرتال انسان وېښتان هوار شي او اوسنۍ جامې ور واغوستل شي، نو د نن ورځې له مهذب انسان سره به يې هېڅ فرق پاتې نه شي. په وروستيو وختونو کې د نياندرتال ځينې نور فوسيلونه هم لاسته راغلي دي او له هغو هم دا ثابتېږي، چې نياندرتال ابتدايي کړۍ نه ده، بلکې د نني انسان په څېر يو انسان و. او د انسان کلمې د کُلي مفهوم له مخې يو بشپړ انسان و.

ketabton.com - The Digital Library

## د میتافیزیک په لور

د انساني مغزو جوړښت له نن (۱۹۸۰ کلونه) نه لس کاله پخوا یو پټ راز ګڼل کېده. خو نن ورځ ساینسپوهان په دې فکر دي، چې هغوی د دې راز له مخه په پړونې اخیستو کې بریالي شوي دي. خو د انساني مغزو په اړه چې زموږ معلومات څومره زیات شوي دي، هغه ډېر په حیرانوونکي ډول په لرغونو مفروضو باندې کرښه راکاږي. پخوا فکر دا و، چې انساني مغز د میوسین له دورې (Miocene Period) نه راوروسته په څوارلس میلیونه کاله کې وده کړې او اوسني حالت ته رسېدلی دی. خو اوسني معلومات راته وایي، چې انساني مغز د تېرو قیاساتو بالعکس دومره پېچلی دی، چې یاده موده د هغې د ارتقا لپاره په هېڅ ډول هم کفایت نه کوي.

د انساني مغزو په هکله یوه سوال دا دی، چې هغه موډ یا حالت څنګه بدلوي؟ په دې برخه کې څېړونکو د درملو په مټ په مصنوعي ډول د موډ د بدلولو هڅه وکړه. یاد درمل بېلابېل کیفي حالات کمولی یا زیاتولی یا بدلولی شي. مثلاً خوب کمول یا زیاتول، جنسي جذبات اغېزمنول، د حافظې موده لنډول یا اوږدول، د ښکلا حس کمول یا زیاتول، او داسې نور.

خو د دې ډګر څېړونکي د خپلو څېړنو له پایلو نه یو ډول وېرېدلي دي. په دې چې هغوی نه پوهېږي، چې په حقیقي معنا کې دوی په کومه خوا روان دي.

شاید دوی به د مابعدالطبیعاتو په دنیا کې قدم ایښی وي.

***

## یوه نفسیاتي کمزورتیا

د قرآن کریم په ۷۴مه سوره کې ویل شوي دي، چې په جهنم باندې به ۱۹ پرښتې مقررې وي. دا آیتونه چې کله نازل شوو او رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې خلکو ته ولوستل، نو مخالفینو ته د نبي کریم ص په دعوت باندې د ملنډو وهلو ډېره زبردسته پلمه په لاس ورغله. ابوجهل خپلو ملګرو ته وویل، «ورونو! تاسې دومره بلا وهلي یاستئ، چې په لس، لس تنو به په ګډه د دوزخ یو، یو عسکر هم قابو نه کړای شئ.» د بني جمح یوه پهلوان وویل، «له اوولسو سره خو به یوازې زه وګورم. پاتې دوو سره یې تاسې پوه شئ.»

دا خلکو دومره احمقان نه وو، چې په دې خبره نه پوهېدل، چې د نولس معنا ده د خدای نولس. او د خدای خو یوازې یو هم د ټول کاینات د پرځولو لپاره بس دی. اصلي خبره دا وه، چې هغوی نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ځان په څېر یو انسان لیده. بلکې پیغمبر په دنیوي مقام او مرتبه کې هم له هغو نه ډېر ټیټ و. په داسې حالت کې هغوی په

ketabton.com - The Digital Library

دې نه پوهېدل، چې د دوی د منځ یو معمولي سړی د خدای له لوري هم غرېدلی شي. هغوی په پاسنی خبره په اصل کې په همدې رسول ملنډې وهلې نه په خدای او د هغه په پرښتو.

د انسان کمزوري دا ده، چې دی یوه خبره د هغې د دروني حقیقت په اعتبار نه شي لیدی. دی حقیقت له ظاهري پلوه ارزوي. دی د «خبرې» په ځای خبره کوونکي ته ګوري. همدا وجه ده، چې د نبیانو د پیغام په اهمیت د هغوی مخاطبین پوه نه شول. نبي د خپلې ظاهري څېرې له پلوه هغوی ته یو معمولي انسان په نظر ورته. نو هغوی به نه پوهېدل، چې یو معمولي انسان دا درجه څنګه موندلی شئ، چې د خدای تجلی دې ورباندې نازلې شي او په هغه مقام دې ودرول شي، چې خلک دې له حق امر نه خبر کړي. هغوی وار له مخه دا فرض کړی و، چې نبي یو نامهم سړی دی، همدا وه، چې هره خبره یې ورته نامهمه ښکارېده.

---




## خو د هغې لپاره خلک چنده نه راکوي

**په کلي کې څو ځوانانو د سیرت غونډې لپاره برنامه نیوله. د هغوی جذبه دا وه، چې زموږ کلی یو تاریخي نوم لري. نو جلسه هم باید تاریخي حیثیت ولري. ما ورنه وپوښتل، چې څومره پیسې به په کې ولګوئ. ځواب یې راکړ، چې څلور، پنځه سوره زره افغانۍ به په کې مصرف شي. ما ورته وویل، چې بې له شکه دا زموږ لپاره د ویاړ خبره ده، چې موږ د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم امت یو. د هغه مینه زموږ تر ټولو ګرانبیه متاع ده. خو د هغه د یاد د ژوندي ساتلو، د هغه د حسنه تګلارې د عامولو لپاره غونډې ته څه ضرورت دی، په کلي کې هېڅ کتابخانه نشته، په دومره پیسو د ډېرې ښې کتابخانې بنسټ ایښودلی شئ. په دې کتابخانه کې به د**

ketabton.com - The Digital Library

**سیرت په موضوع غوره کتابونه وي او په همدې کتابخانه کې د زلمیانو د ښوونې یو مرکز هم جوړولی شئ. د غونډې ویناوې خو به په هوا کې ورکې شي، خو د کتابخانې فیض به کلونه، کلونه خلکو ته رسېږي. ځوان زما خبرې ته رامات شو.**

**خو بیا یې وویل، «مګر د کتابخانې لپاره خو خلک چنده نه راکوي او د غونډې لپاره خو په اسانه پیسې راټولېږي.»**

---

## یا الهي دا څه ماجرا ده

مولانا ابوالکلام ازاد په ۱۹۱۴ کې د «دارالارشاد» په نوم یوه اداره جوړه کړه. د ادارې د موخو په ترڅ کې مولانا لیکلي و «زموږ کارونه په لویه کې په دوو برخو کې دي: د مسلمانانو داخلي اصلاح او د علم او عمل احیاء، او په پردیو قومونو کې د اسلام تبلیغ. دواړه کارونه بې له دغسې یوې ډلې نه شي ترسره کېدی. او هر ځومره غورځنګونه، ټولنې، کانفرانسونه او بېلابېلې هڅې چې له دغسې ډلې پرته ترسره شي، هغه به همداسې په اوبو لاهو کېږي، لکه تر اوسه پورې چې لاهو شوې دي.»

څلوېښت کاله پخوا د مولانا پاسنی تحلیل څومره سم و. خو موږ ګورو، چې څو ورځې وروسته مولانا پخپله دواړه کارونه پرېښودل او د «بېلابېلو هڅو» یا په بله اصطلاح د سیاست په کرښه روان شو. سره له دې چې تر وروستي وخته پورې یې همدا اعلانونه کول، چې ما چې په ۱۶کلنۍ کې د ځان لپاره کومه لاره غوره کړې وه، نن ورځ هم په هماغه لاره روان یم.»



همدا د اوسنۍ زمانې د نیږدې ټولو شخصیتونه حال پاتې شوی. هغوی په ابتدا کې له سوچه دیني مقصد سره راپورته شول، خو ورو په ورو یې ګاډی د سیاست کرښې ته وغورځېده. ډېره د حیرانتیا خبره دا ده، چې هر یوه تر وروستي وخته پورې همدا خبره کوله، چې دی اوس هم په هماغه مقصد ټینګ دی، چې په پیل کې یې د ځان ته مخې ته ایښی و.

ketabton.com - The Digital Library

# دا جعلي داستانونه

«شیخ ابو یزید قرطبي فرمایي، ما اورېدلي دي چې که یو بنده اویا زره ځلې **لا اله الا الله** ولولي، نو د دوزخ له اوره به نجات ومومي. ما چې دا خبره واورېده، نو یو نصاب یانې اویا زره ځلې مې د خپلې مېرمنې لپاره هم ولوسته، او څو نصابه مې د ځان لپاره ولوستل، چې د اخرت ذخیره مې شي.

زموږ سره یو ځوان اوسېده او د هغه په اړه مشهوره وه، چې د کشف خاوند دی. د جنت او دوزخ کشف هم ورته کېږي. زه د دې خبرو په صحت کې لږ شکمن وم. یو ځل دغه ځوان له موږ سره په ډوډۍ باندې ناست و. ده ناڅاپه یوه چیغه وکړه او ساه یې لنډه، لنډه ونیول شوه. د ده مور مړه شوې وه. ده وویل، چې ما همدا اوس خپله مور ولیدله. مور مې د دوزخ په اور کې سوځي. په دې وخت کې زه فکر یووړم، چې ما خو د **لا اله الا الله** څو نصابه لوستي دي، له هغو نه به یو نصاب د دې ځوان مور ته وبښم. په دې سره به د ځوان رښتیا او دروغ هم معلوم شي. نو ما د اویا زره ځلې یو نصاب، له هغو نصابونو څخه چې د ځان لپاره مې لوستي و، د هغه مور ته وبښل. ما پټ په خپل زړه کې بښلی و او زما د دې لوستو په خبره هم له خدای پرته بل څوک نه پوهېدل، خو له هغه وروسته سمدستي هغه ځوان وویل، چې کاکا! زما مور د دوزخ له عذاب نه وایستل شوه.»




دا یو معمولي غونډې مثال دی. دغه راز بې شمېره کیسې له ځانه پنځول شوې او په امت کې خورې شوې دي. په تېرو پېړیو کې بې شمېره کتابونه ولیکل شوو، چې له دغه راز جعلي کیسو ډک دي. دې کیسو او د کراماتو جعلي داستانونو ډېرو خلکو ته فرصت برابر کړی دی، چې د هغو له لارې مذهبي هتې پرانیزي. په دې چې عوام ډېر ژر د طلسماتي کیسو په لومه کې لوېږي.

***

**نن ورځ د خلکو لپاره تر ټولو اسانه کار غړېدا ده او تر ټولو مشکل کار چوپتیا. خو ډېر ژر هغه ورځ راروانه ده، چې غړېدا به دومره سنګین کار ښکاري چې خلک به فکر کوي، چې کاش ټول عمر غلي وای، کاش خپلې شونډې یې ګنډلې وای.**

ketabton.com - The Digital Library

## په دغسې خبرو سم ذهنيت نه شي ايجادېدی

**عن زيد بن ارقم قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم من قال لا اله الا الله مخلصا دخل الجنة قيل وما اخلاصها قال ان تحجزه عن محارم الله (رواه الطبراني في الاوسط والکبير)**

ژباړه: له زين بن ارقم نه روايت دی، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل، هغه شخص چې په اخلاص سره **لا اله الا الله** ووايي، جنت ته به داخل شي. ويې پوښتل، د کلمې اخلاص څه دی؟ ويې فرمايل، چې دا کلمه يې د الله له حرام کړيو کارونو راوګرځوي.

د دې حديث په تشريح کې يوه صاحب ليکلي دي:

«او دا ښکاره ده، چې له حرامو کارونو راوګرځي او **لا اله الا الله** ته قايل وي، نو په سيده جنت ته تلو کې يې څه شک دی. خو که له حرامو لاس و هم نه ګرځوي، بيا هم د يادې کلمې په دې برکت کې د شک ټکی نشته، چې د خپلو بد اعماليو له سزا ګاللو وروسته به يو نه يو وخت ارومرو جنت ته داخل شي. البته که خدای مه کړه، د خپلو بد اعماليو له لاسه له اسلام او ايمان نه پسې محروم شي، نو هغه بېله خبره ده.

له نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه په يوه صحيح حديث کې راغلي دي، چې زېری واورئ او نورو ته هم زېری ورکړئ، چې هغه بنده چې په رښتيني زړه د **لا اله الا الله** اقرار وکړي، جنت ته به داخل شي. له اخلاص سره کم عمل هم ډېر رنګ راوړي، له همدې امله څوک چې په اخلاص سره د شهادت کلمه ووايي، نو ارومرو به يې مغفرت په برخه شي، ارومرو به جنت ته داخل شي. په دې کې هېڅ تردد هم نشته. دا ممکن دی، چې د خپلو ګناهونو له امله څو ورځې سزا هم تېره کړي او بيا جنت ته داخل شي، خو ضرور نه ده.»

په پاسني عبارت باندې د سوچه «مسئلې» په حيث نيوکه کول مشکل کار دی. خو دا هم حقيقت دی، چې له حرام نه په ځان ساتلو او له محرماتو نه په ځان نه ساتلو دواړو حالتونو کې د «يقيني» جنت زېري عام شي، نو له دې نه هېڅ کله هم سم ذهنيت نه شي ايجادېدی. يهودو خو به هم همدا ويل چې **لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلاَّ أَيَّاماً مَّعْدُودَةً** (موږ ته به له څو شمېرلو ورځو پرته اور (عذاب) راونه رسي) نو که همدغه ډول عقيده موږ هم جوړه کړو، نو په موږ کې به له يهودو نه مختلف ذهنيت ولې پيدا شي؟

دغه راز مسايل پنځوونکو شايد د الهي کتاب دا آيت هېر کړی دی: «**لَّيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلا أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتَابِ مَن يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ**»

ژباړه: نه ستاسو په هيلو (برابره) ده او نه د اهل کتابو، چا چې ناوړه کار وکړ، د هماغه بدله ورکول کېږي.

***

ketabton.com - The Digital Library

# مسؤلیت

څوک چې دا کربښې لولي، له هغو نه به هر تن پنځوس کاله وروسته مړ شوی وي. بیا به یې ټیکانه یا جنت وي یا جهنم. زه غواړم، چې کوشش وکړم، چې هغوی جنت ته ورسي.» څومره عجیبه ده دا خبره.

د مسلمان په حیث زموږ اصلي مسؤلیت دا دی، چې موږ دنیا ته د راتلونکې ورځې خبرداری ورکړو. هره ورځ سلګونه زره وګړي د ځمکې په مخ مري. خو هغوی خبر نه دي، چې له مړینې وروسته چېرته روان دي. د پیغمبر له لارې الله دا راز بربنډ کړی دی او پیغمبر له ځانه وروسته موږ ته دا مسؤلیت را له غاړې کړی دی، چې موږ له دې لوی ترین حقیقت نه د دنیا خلک خبر کړو. تر څو خلک د ژوند په راتلونکي پړاو کې له داخلېدو دمخه لا له دې مسئلې سره اشنا وي او سر له اوسه ورته تیاری پیل کړي.

څومره عجیبه خبره ده، چې په اوسنۍ زمانه کې بې شمېره اسلامي غورځنګونه په ټوله دنیا کې فعال دي. خو هېڅ داسې غورځنګ نشته، چې په رښتیا د دې لپاره راپورته شوی وي، چې دنیاوال له دغې بوږنوونکې ورځې اګاه کړي.

په یاد ولرئ چې د الله په نزد زموږ درنښت یوازې هغه وخت دی، چې موږ د هغه په مطلوب کار کې لګیا اوسو. که موږ هغه کار سرته ونه رسوو، نو د الله په نزد زموږ هېڅ قیمت نشته. خدای نه زموږ کراماتو ته اړتیا لري او نه زموږ انقلابي نعرو ته. نه یې شانداري ودانۍ پکار دي او نه ځلبلانده تالارونه. هغه ته خو یوازې دا مطلوب دي، چې بندګان یې له دې خبر شي، چې د هغوی رب به بلاخره له هغوی سره څه ډول معامله کوي.

بنده د ورځې په رڼا کې په دې فکر خپلې چارې تنظیموي، چې لنډه موده وروسته به د ماښام پردې وغوړېږي او د شپې په دې یقین ویده کېږي، چې څو ساعته وروسته به د سهار رڼا د شپې له مخه پرونی واخلي. خو د اخرت له دنیا نه هېڅ څوک خبر نه دي. هېڅ څوک نشته چې مرګ داسې په سترګوویني، لکه د ورځې مسافر چې راتلونکی ماښام ګوري. او داسې خلک د نشت په درجه کې دي، چې له مرګ بلې غاړې ته دې دوزخ ویني. هر انسان داسې ژوند تېروي ته وا مرګ هم د نورو لپاره دی او جهنم هم د نورو لپاره.

***

ketabton.com - The Digital Library

# له سرسري مطالعې وروسته چې کوم قضاوت شوی وي، ډېری وختونه له څېړنې وروسته غلط خېژي

معاويه بن ابي سفيان (٦٨٠-٦٠٥ز) مشهور صحابي و. د هغه په اړه يوه صاحب ليکلي دي:

«د ديت په معامله کې هم حضرت معاويه سنت بدل کړی دی. سنت دا و، چې د معاهد ديت به له مسلمان سره برابر وي. خو حضرت معاويه دغه ديت نيم کړ، او پاتې نيم يې پخپله اخيست.»

د معاهد د ديت په اړه له نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه مختلف اقوال روايت شوي دي. يوه روايت کې رسول الله فرمايلي دي: د ذمي ديت د مسلمان له ديت سره برابر دی. (**دية ذمي دية مسلم، السنن الکبری للبيهقي، جلد ۸، صفحه ۱۰۲**)

د بل روايت الفاظ دا ډول دي: د کافر ديت به د مسلمان د ديت نيمايي وي (**عقل الکافر نصف دية المسلم، نيل الاوطار جلد ۷، صفحه ۶۴**) په دې اساس د صحابوو له زمانې نه دغه مسئله مختلف فيه وه يا دا چې اختلاف په کې و. ځينو خلکو وويل، چې د معاهد ديت بايد د مسلمان له ديت نه نيم وي، او ځينې خلک د مسلمان او معاهد په ديت کې فرق نه کوي. حضرت معاويه په اصل کې د دوو نظرونو په منځ کې يوه نظر ته ترجيح ورکړې ده نه دا چې پخپله يې کومه نوې لاره پيدا کړې ده.

«پاتې نيم يې پخپله اخيست» د خبرې حقيقت دا دی، چې حافظ ابن کثير په البدايه و النهاية کې د امام زهري مقوله په دې ټکو کې راوړې ده، چې: معاويه لومړنی شخص دی، چې د معاهد ديت يې نيمايي ته راکم کړ او نيم يې د ځان لپاره واخيست (**واخذ النصف لنفسه**)

دا عبارت په سرسري نظر کې ډېره مغالطه جوړوي. خو د دې وجه د دې عبارت اجمال دی. همدا وجه ده، چې ځينو خلکو چې دا مسئله په تفصيلي شکل راوړې ده، نو د هغوی له بيان نه دا په ډاګه کېږي، چې دلته له خپل ځان نه مراد حکومتي خزانه ده. بيهقي په خپل سنن کې د امام زهري مقوله د ابن جريج په سند په تفصيل سره راوړې ده او هلته يې الفاظ دا دي:

«**فلما کان معاوية اعطى اهل المقتول النصف والقى النصف في بيت المال**»؛ ژباړه: چې کله معاويه خليفه شو، نو هغه نيم ديت د مقتول خپلوانو ته ورکړ او نيم يې په بيت المال کې ذخيره کړ.

***

ketabton.com - The Digital Library



## له انسان سره کمې، له الله سره ډېرې

قال ثور بن يزيد – قرأتُ في بعض الكتب ان عيسى عليه السلام قال:

يا معشر الحواريين كلموا الله عزوجل كثيرا و كلموا الناس قليلا.

قالو: كيف نكلم الله كثيرا.

قال: اخلوا بمناجاته، اخلوا بدعائه (خرجه ابونعيم)

ژباړه: ثور بن يزيد وايي، چې ما په ځينو کتابونو کې ولوستل چې عيسى عليه السلام خپلو حوارييونو ته وويل: اې خلکو! له الله سره ډېرې خبرې وکړئ او له انسانانو سره کمې خبرې وکړئ. هغوی وپوښتل، څنګه له الله سره ډېرې خبرې وکړو. حضرت عيسى وويل: په خلوتونو کې له الله سره راز و نياز وکړئ، په تنهايانو کې له الله نه دعا وغواړئ.

**پای**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*